کابل

پرلہ پسی گڼہ ۳۷

Aug - 63

2 JUL 30
Copy 1964

Aug 31. 63

«٦»

علمی اجتماعی او ادبی

وږی (۱۳٤۲ش) کال د (۱۳۸۳ق) کال د ۱۹٦۳ کال اگست او سپتمبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ	د پښتونستان مشاعره	د ښتین	۱
۲ـ	مشاعره	د شاعرانو	۲
۳ـ	د پښتو شعری او ادبی قاموس	واسعی	۲٤
٤ـ	پښتو نومونه	اتمان	۳۰
٥ـ	دورد گو پیژندگلوی	ثابت	۳٤
٦ـ	په غربی فکر د شرقی ادبیاتو تأثیر	د سیفی ترجمه	٤۲
۷ـ	لوسون او ادبیات	افق	٥۹
۸ـ	سلطان ملا	سیلاب صابی	٦٦

امتیاز د پښتو ټولنې

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

2006204653

د پښتونستان مشاعره

پښتونستان داته ملیونه تاریخی ملت دژوندانه او آزادی دمجاهد و او پرله پسې قربانیو یو ښکرګند مثال دی .

د آزادی او خپلواکی په دغه عصر کښې چه ټول ملتونه په خپله خوښه دژوند کولو او چټې ښوکی ته وختل ؛ یوازې د پښتونستان ملت لا تر اوسه ه پایښت په دغه جګړه کښې بو خت اولاهماغسې په کلکه مجاهده لګیادی . دا مجاهده یوه دا سې مجاهده ده چه د پښتونستان دملت عزت او پت ژوندا و مرګ ور پورې تړلی دی . که څه هم په دې لاره کښې ډیرې او ډډې جګړې شوی دی او ډیر ځوانان پکښې قربان شوې دی ؛ خو تر څو چه دغه ننګیالی ملت دمقصد پړاو ته نه وی رسیدلی او د آزادی ناوې په لاس نه وی ورغلی ترهغې به دغه ستره مجاهده روانه وی . په دې اوږده شخړه کښې دافغانستان ملت او حکومت هم د دوې کلک ملګری دی او د دوی هر ډول اخلاقی مرسته دخپل ځان یوه مقدسه وظیفه بولی .

پښتو ټولنې هر کال د پښتونستان دولس د کلکې مجادلې سره دخپلې همدردی آواز ملګری کړی دی او دا دی سږ کال هم غواړی چه د پښتونستان د ورځې په یاد کښې خپله ترتیب کړی مشاعره ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړی . دامشاعره دکابل راډیو په څپو کښې هم خپره شوې ده او اوس دکابل مجلې په پاڼو کښې د پښتنی آرزو ګانو د یو سپیڅلی یاد ګار په توګه د ټولو حساسو زړونو د بیداری د پاره خپریږی .

(رښتین)

عبد القدیر فهیم

پښتون ځلمی ته

اې د خیال سلطانه ستا دربار ته دا عرضونه کړم
درد لرم په زړه کښې د علاج درته سوالونه کړم

ستا دې بد مستۍ نه به هم تا ته فریادونه کړم
زه به دیتیم غوندې په پټه خوله آونه کړم

ځان ته ملتفت شه د خپل شان دې تماشه وکړه
بیا ځیرشه دنیا ته د جهان هم ننداره وکړه
ځان نه ځان خبر کړه دهستۍ ځانته جهان لرې
څه دې چه قطره یې پټ په زړه کښې لوی طوفان لرې
ته د خپل همت دنیا کښې بهله ځمکه او آسمان لرې
عرش به دې وی ځای د ناستې خوی که د انسان لرې
و شلوه دوهم تنابو نه که پر و از غواړې
مه غواړه د ځان راحت وصال که دا یاز غواړې
ته هغه شاهین شه چه یې ښکاروی د بازو په زور
ته هغه نظر شه چه یې انجام وی د الله په لور
ته د ژوند څپه شه چه دې مات نه کړی ماڼو په زور
بریښ د پسرلی ښه مړه ژوندی کړه د تنها په شور

پورته له دې ورانې دنیا ځانته یو اشیان کړه جوړ
نوم دې چه انسان دی نو له ځان ځنې انسان کړه جوړ

څو به نا خبره سپور په ولو د تعبیر یې ته
څو پورې به پروت په دام د زلفو کښې اسیر یې ته
څو به مرو رله لارې چارې د تدبیر یې ته
خوشی دې خودی کړه ځکه نښتی په ځنځیر یې ته

و خو محو ه محان ګو ند ي فنا د غشی نښه شو ي
دي لالهنده حال کښې د فطرت د تند ی زخه شوي

ټینګه ورور و لی کړ ه ته جو هر د کهر بالر ي
مړي خاوري ژوند ی کړ ه چه نظر د مسیحا لري

وچ غر و نه د ي زر کړ ه اثرو نه د کیمیا لر ي
یو موسی پیدا کړ ه سمه او غر ته د سینا لر ي

ژا ړ مه پر د ي چه نا خبر ه شو ي له محا ن محني
و یو ډي پر کالی محکه شوي پاتي له جها ن محني

نه د ه افسانه ژوند د سختیو لوی کار وان ګنه
لټه د منز ل پسې هر یو ستړ ی ستو ما ن ګنه

و ا یی پنځه و ر محي د بقا د جنګ میدا ن ګنه
خیا ل د پورته تللو طبیعت کښې د ا نسا ن ګنه

ته هم محان او چت کړه د ماضی ترانې بس دی نور
ما ته خم خانه کړه د ساقی پیما نې بس دی نور

ښه دی چه بینایي خو د زړه سترګې رڼې کړه لږ
لار کښې ګړنګو نه دی عرفان وړانګې خپرې کړه لږ
شان که د پښتون غواړې همت تورې تیرې کړه لږ
د مټو په خولو باندې خړوب و چې میر ي کړ ه لږ

بیانو د فردوس نښا ن قا م په ا فتخا ر ګو ر ه
خو لو کښې د خو بانو د فهیم خواږه اشعار ګوره

بینوا

ځان غولوم

نه یوازې دې دنیا کښې زه په تا ځان غولوم
لو دنیا یم دې دنیا کښې، په هرچا ځان غولوم

احساسات چه طوفانی شی، شی دعقل بېړۍ ډوبه
د بقا ساحل که نشته، په فنا ځان غولوم

کرشمی مې د کږوور وځوزر فتنې لری، په پټه
چه د ستر ګو بلا اخلم په بلا ځان غولوم

زړه ماشوم شوراته ژاړی، کټوری له زاړو غواړی
سوخته پریمه، په سیوری دعنقا ځان غولوم

دمرادغوټۍ له ګله، په رژون شوه تورې خاورې
زه لا هسې په نسیم د نن سبا ځان غولوم

خپل پردی مې ستا چمن کښې، په یوشان ولی په کاڼو
لېونی غوندې د زخم په خندا ځان غولوم

په خیالی شیشه محل کې د خپل ځان نفس ورک شوم
هوسی یم، د سراب په تماشا ځان غولوم

د مستانو پیالې ډکې زه لا هسې خمارناست یم
خولا بیا هم د ساقی، په دلاسا ځان غولوم

د بابا هډونه پټ شول د پردو سپر وله ګرده
زه لاناست یمه په توره، د بابا ځان غولوم

غولولو د پښتون ته پردوا یښی وی دامونه
زرکر ته غولېدلی، خو هم بیا ځان غولوم

ننګرهاری

دیو محکوم بندی له خوا

یا به مې یار له وینو خال کېږدی
یا به تې ملا په زلفو و تړمه
یا به زما وینې اثبات شی د حق
بیا به منصور له داره و شړمه
یا خو به زه ددې پرخیزې د نیا
تاوده ساده سره قول و لړمه
اوس نو پیغورد تندی لیک شو زما
په نا لید لې لا ربه و رغړمه

قلز مه ستا چپو ته دانګمه زه
قز حه ستا په ګال به زانګمه زه

ستا په دې و یړ جهان یو زه یم داسې
لکه یتیم چه سر و هلی ګرځی
ساقی دا ستا له بهر حمی هسې یم
لکه پر د یس چه نا بللی ګرځی
خوار ه وزر مې د آرزو پر یشان
لکه نسیم چه الو تلی ګرځی
د تمنا عصمت مې ستا د لا سه
په مار کو نه یو کښې پښی پلی ګرځی
آخر د اهو مره تحمل تر څو ؟
غم مې په غم باندې تل تل تر څو ؟
اوس مې لمن د لیو نتوب و نیوه
ما پس له دې نو یو د پر و کښې ګوره

دلته مې کېښوه دردانه د عقل
لال دې په دې خړو ایرو کښې ګوره
د تقاضو په نړ یدلی مزار
لکه لاله مې په میرو کښې ګوره
غم چه د اسپینې وینې رنګ کړم لږې
ما د شفق په جز یر و کښې ګوره

لاړم او غېږ کښې مې ارمان را سره
ارمان مې څه چه مې جهان را سره

تامې آرزو په خاورو پرې و یستله
زماد هیلو دې کچکول مات کړو
هله به ماته تلو سه شی ز ما
که دې سپوږمی نه مې د اشپول مات کړو
دمټ په خرپ مې زړه د احکم کوی
چه مې له سره سره خول مات کړو
دا به زما د یاغی تندې جوش وی
که د ساقی نه مې کنډول مات کړو

یا به زما ارمان کفن وشلوی
یا به می سردار رسن وشلوی

محمد عالم اتمان

درنځور بندی پوښتنه

رنځو ره لاس دې را که تب و تاب لرې که نه ؟
پر کاله که ویده یې خوردو خواب لری که نه ؟

❦

تبګی خو در پخواده هم غمو نه د وطن !
په کام وطن مینه ؟ نو رعذاب لرې که نه ؟

❦

نو لیږې هم تپیږې لټ په لټ اوړې مدام !
د ننه په زړګوټې کوم خو ناب لرې که نه ؟

❦

د خپل حق په طلب یاد آزاد ژوندون په عزم
د جیل په زولنو کښې پیچ و تاب لرې که نه ؟

❦

اسیره اې زهیره اې مظلومه د زندان !
په سوې زړه زوږو نه د کباب لرې که نه ؟

❦

پوښتنې ته دې راغلمه رو کیه رنځ دې څه دی ؟
«اتمان» ته دې حال وایه سوال مخواب لرې که نه ؟

مولیناشاه مقصودگرم

مستانه

چه مې جوړه نن په زلفو سامانه ده
یا ستومانه مې کاکل باندې شانه ده

دا چه ښکاري په لمنه د شفق کښې
جنازه مې د مین نن رنګینه ده

په پښتو کښې د سنګرمړینه اختر دی
پښتون څوک دی چه ئې وینه مستانه ده

وینه مینه د پښتون سره یوه ده
چه یو زخم په ملیونو زړودانه ده

په ډیوې پتنګ مین پښتون په توره
د امتل له پخوا نیو نښانه ده

سالګره د نتیجې او تجربې ده
حق غوښتل د قام دفاع ئې یارانه ده

د حالا تو ډک تاریخ او حساب دواړه
ګواهۍ ته ئې شاهده زمانه ده

بینا ستر ګو ئې لیدلې ننداري دی
جذبه ئې د ځوانانو رندانه ده

لا پخوا تلقین شروع کړه شاه مقصوده
دا چه شعر ته را درومی پروانه ده

ر بښتین

پښتون ځلمی ته خطاب

په ځیرځیر هر لورته ګوره
د شاهین نظر پیدا کړه
چه پرې والوزي آسمان کښې
هسې تیز و زړ پیدا کړه
دا بې تابه ژوندون هیڅ دی
چه تیر یږي په سکون کښې
له شعلې نه هنر زده کړه
زړه کښې سوزشرر پیدا کړه
چه د قوم ددرد دوا شی
هم ملهم د خوږ و زړو نو
د خپل قوم په مشری کښې هسې رنګ اثر پیدا کړه
د پښتون ژوندون پښتو ده
په عمل او په وینا کښې
چه قومی ګلشن خړوب کړی
د پښتو کوثر پیدا کړه
آزادی یو لوی نعمت دی
قیمتی دی له لعلو نو
چه پرې دا نعمت حاصل شی
هغه شان جوهر پیدا کړه
بی له سره په دنیا کښې
هیڅ یو کار کید لای نشی
که د قوم ترقی غواړې
نوخپل قام کښې سرپیدا کړه
د همت وزر خواره کړه
جګ شه والوزه هوا ته
چه لوړ غرونه کړی رالاندې
هغه بال و پر پیدا کړه
د ژوندون ګټې پر تی دی
په لمده کښې هم په وچه
د پښتون همت په ځان کښې
بیا په بحر و بر پیدا کړه
چه سرقیت نکړې و چاته
تر ابده او چت او سه
اراده کلکه په زړه کښې
سر لوړې د غر پیدا کړه
چه د قام کشتی روانه
په د ریاب د ژوندانه کړی
له چپو هم غیږ په غیږ شی
هسې شان رهبر پیدا کړه
آزاد کښینه آزاد پاڅه
آزادژوند کړه آزادو مره
د آزاد ژوندون ساحل کښې
یو آزاد بندر پیدا کړه
خپله خاوره خپل وطن چه
کړی ګلګون په خپلو وینو
په ګو ګل کښې د ځوانانو
یو ر بښتین ځیګر پیدا کړه

عبدالله غمخور

وړې وړې راځی

ستر گوله اوښکې خدایږ وستاله غمه — لکه باران چپې چپې راځی
زړه له موجو نه دسر و وینو همېش — قطرې قطرې سړې سړې راځی
سرله فکرو نه شور ما شور و غوغا — بې حده ډېرې ولولې راځی
ستا بیما رۍ په زړه بیما رکړمه زه — خولې له سلگۍ وړې وړې راځی

پښتو نه حال دې د کتلو وړ دی
دډېرو اوښکو تو یو لو وړ دی

په اوښکو ډکه پیما نه د پښتون
دا به تر څووی نند اره د ایشیا
تل درپه دره خیل خانه د پښتون
دا به تر څو وی افسانه د ایشیا
وی همیشه به جیل خانه د پښتون
دا به تر څو وی سر نامه د ایشیا
ورانه و یجاړه آشیانه د پښتون
دا به تر څو وی هنداره د ایشیا

ځای دافسوس اودژړادی زمونږ
وخت دعلاج اوددوادی زمونږ

خوب وخوراک په مونږ حرام دی بس — پس له دې ټول په خپل مرام پسې ځو
بله سو دا له سره تللی ده او س — دقام عزت او ننگ ونام پسې ځو
مونږ ته دی زرد خپل وطن خاروخس — دخپلو وینو په ډک جام پسې ځو
دخپله هو ډه به وانه و ړو یو کس — مونږ دوحدت په لوی امام پسې ځو

مظلومیت مو انتها کړی ده
وخت وزمان راته ندا کړې ده

په دې دنیا کښې اوسېدل غو اړو — د با شرفه انسا نا نو په څېر
د خپلې خاورې خپلو ل غو اړو — دسرفرو شو فر ز ندا نو په څېر
د پښتو نوا لی در نول غو اړو — د ننگیالیو سر با ز ا نو په څېر
د خپلو چا ر و سمو ل غو اړو — د خپلو ا کی د حا کما نو په څېر

څو چه آزاد پښتونستان نه کړو
ځان به آرام په دې جهان نه کړو

محمدهاشم غم شریک څوکیوال

محکوم پښتونستانی وایی

که غاصبان مې څواری راته په سر کښېږدی یا مې داغونه د گولیو په ټټر کښېږدی
که په زړو زخمونو بیا راته خنجر کښېږدی د چل ول دامونه بیا شام وسحر کښېږدی
هیڅ به جذبه د پښتونو الی زما کمه نه کړی
زما د ننگ او د غیرت شمله به خمه نه کړی

روح چه پښتون وی غلامی د چا کولی نه شی که څوک پښتون وی د چا جغ په غاړه وړلی نه شی
سرور کوی خو له خپل حق نه تیریدلی نه شی د چا په زرو زور له ملکه تیریدلی نه شی
یا به خپل ځان ته د آزاد ژون نعمت وگټی
که نه وی ځان ته به مقام د شهادت وگټی

که وژل کیږو په خپل حق او په پښتو باندې که مو د ږیرې ویښته سپین کړی په جیلو باندې
که مو سینې غلبیل غلبیل، شی په گولو باندې که مال او کور راته څوک وسیزی بمو باندې
زمونږ جذبې او احساسات به لا یادیږی پسې
که مونږ مر و خو نه د بل به لا ورانیږی پسې

د شهیدانو په متینو ارادومې قسم د ننگیالو او نومیالو په هدیرومې قسم
د شاه ځلمیو په سپیڅلو عقیدومې قسم په پښتنی ژوندی احساس او په پښتومې قسم
چه به د ځان د پاره خپل پښتونستان وگټم
په زور د توري به د نوی ژوند جهان وگټم

یا به کړم غلی د خوارانو یتیمانو سلگی د کونډو رنډو بی وزلو ماشومانو سلگی
د کړیدلو ځوریدلو حق خواهانو سلگی د سینه سوو غم زپلو مظلومانو سلگی
ځان به د خپل وطن د پاره سپیلنی کړمه زه
سرومال دواړه به پښتو ځنې لوگی کړمه زه

ع ، قتیل خوږیانی

پښتنی عزم

که د زړه خونه له غموډ که ده

د سر کو پړی می له پښتوډ که ده

په پښتنی عزم به یون کومه که څه هم لاره له اغزوډ که ده



ارا دې ټولې پښتنې دی زما

او اراده له ارا دوډ که ده

آخر به دا بهیر منزل ته رسی

دا قافله له غیر توډ که ده

جوړ به شی زر پښتونستان په پښتو

هره دره له غلبلوډ که ده

ملګرو! ګوری چه بې واره نه شی

مینه له ډېرو کشالوډ که ده

مینه د زړه په وینو رنګه ښه ده

له نازولو خاطر وډ که ده

«قتیله» پام کوه ترې لاس وانخلې

د عشق د نیاله ولولوډ که ده

عبدالهادی هدایت

د زمانې الهام

د الهام د زمانې دی — چه پیدا کاندی اسباب
په دفتر د زمانه کښې — هره ورځ دی نوی باب
چاته نوی کورودان کړی — دچاکړی کورگی خراب
څوك خوشحاله کړی بېغمه — دچاکړی سترگی خوناب
د غه کار د زمانې دی — په چاهغه په چادا کړی
څوك خوشحاله کړی بېغمه — څوك لهغم سره آشنا کړی
د جهان نندا ره گوره — دخلقت پهرنگېنو کښی
کهطاقت دې وی پهځان کښې — کهدې توان وی په لېمو کښې
دې رنگین تصویر ته گوره — په صفحه دورځو شپو کښی
لا ترڅو پورې بهغرق ئی — د او هامو په څپو کښې
پرکالی کړه درنه لرې — لږ را پاڅېږه پهخو دشه
دعبرت په سترگو، گوره — خواو شا ته لږ په سد شه
خوارو زار به ئی تر څو — بېزارو لې ئې له ژونده
جا روگی د بد بختی شوه — په کورگی کښې درته پنډه
د غفلت په میو مسته — ستاژوندون وینم بی خونده
د ملی ژوندون هستی دې — پهدنیا کښې کړه څرگنده
محوه کېږې محوه کېږې — اې بدمسته خبر دار شه
فنا کېږې، فنا کېږې — ژر را پا څېږه بیدار شه
سرا سر بهدې ځان سپاری — لا تر څو پورې تقدیر ته
له تقدیر نه گیله منه — لږ دې پام وکړه تدبیر ته
لهتدبیر نه لاس په سره — ملتفت شه خپل تقصیر ته
ش عنوان دژوندون گورې — خبر نشوې له مضمونه
مه شه مه شه گوره مه شه — نور بې برخې له ژوندونه

دغ · جلالی ترجیع بند «بولله»

د سباوون نغمه

سپېدې افق کښې په ورو، ورو رنګین څادر خپروی
لکه پتنګ چه دډېوې پر مخ وزر خپروی

نسیم له غرونو، مستانه راوړی د ګلو وږمې
چوڼی د بڼ په تتو پاڼو کښې محشر خپروی
ستوری را خېژی، شپه کښې وچو رلېده سا د سحر
د شپې و روستۍ شومه هم زیری د سحر خپروی
سترګه را هسکه شوه، وږمه د سباوون چلیږی
کاروان روان دی لرغونی ساز د خیبر بږغوی
څوک د کاروان په لیار کښې ناست د درخانۍ په تمه
څوک د لیلی پر محمل پاس ښکلی څادر غوړوی
نرګس روڼې کړې، سترګې بیا ګل په خندا دی
ته هم راویښ شه آشنا سحر سبا دی

غیېلی د شپو له را بهر شوې د شنیلو په هوا
د غرو لمنو کښې خپرېږی خو تیاره ده فضا
یو کنډک توره وریځ پاس د غره پر سر ولاړه
لکه کېږدۍ چه د سپین غره پر څوکه شپه کړی سبا
د سباوون وږمې ورو، ورو په خو ځید و راوسته
له غرور اکوزه شوه خپره شوه ژر، پر پلنه بیدیا
هغه د ژوند څاڅکی چه زړه کښې کرۍ شپه وساتل
اوس یې پاشی د پښتیانا، په ګلکڅو نو وړیا
تنکی سهار دی، ښایښته ریدی ګلان غوړېږی
عجب احوال دی، نړۍ خاندی یو پښتون په ژړا
نرګس روڼی کړې سترګې بیا ګل په خندا دی
ته هم راویښ شه آشنا سحر سبا دی

طبیعت خپل تکلیف په ځای کړ و ریځ و شلېد له
ژېړ و ټی لمر شو ، بیا یې مځکه فضا و ر و ڼله

غیېلی د ستر گو ، ا لو نیا شوې له ما لرې و لاړې
گورم خرجاړو کښی ښکا ره شی څار و ی کله کله

ښکلی موسم دی ، طرا وت په هر شنیلی کښی څرگند
شنه ، ز ر غو نه له مځکې پا س ا فق ته و ختله

بېد یا په وښتو شو ه سینگا ر سمبال په گلو تړ ی
پاس په رنگین پېلیا ر کښې نا سته پښتنه بلبله

په نا ز را د ر و می غه خپلوا که ناو کی د پښتو ن
شپو نکی پر غټه پاس شپېلی کښې دا غز ل بلله

نرگس رو ڼی کړی سترگې بیا گل په خندا دی
ته هم را و یښ شه آ شنا سحر سبا د ی

کسه! دعشق له برمه هر مشکل آسان شی آشنا
ماتې میرې که وی خپلوا کې؟ گلستان شی آشنا

رښتیا نی مینه دوه و یشتلی زړو نه یو کړی هسی
چه دې وحدت ته افلاطون عاقل حیران شی آشنا

ستا محبت که رښتیا نی و ی کا ر تما م و گڼه
اڅه، غیر ت، دتور یالی ټبر عنوان شی آ شنا

نرگس رو ڼی کړې سترگې بیا گل په خندا د ی
ته هم را و یښ شه آ شنا سحر سبا د ی

عبدالله بختانی

په ګران پښتونستان مې قسم

د پښتنوالی او پښتو په لوړ عنوان مې قسم
هم په پښتون او هم په ګران پښتونستان مې قسم
د لوړو غرو په تېرو څوکو ، هیبت نا کو د رو
د قام په لو یه حو صله او په لوړ شان مې قسم

په تاتره، په هیندو کښې، په کونړ، سپین غرمې دې وی
د پښتونخوا په پاکه ځمکه او آسمان مې قسم
د لویوغرو، لویو کوروڼو په لویوالی باندې
په لوی وطن د لوی پښتون او لوی افغان مې قسم
د آمو سیند په متانت، دا باسیند په ځپو
د عوا طفو ، احسا ساتو په توفان مې قسم
د ننګیالیو، پوهالیو، پټیالیو په روح
په ننګ او توره او قلم د خوشحال خان مې قسم
د بې ګناه بندی په جرم او د شهید په مزار
د آزادۍ د ارمانجنو په ارمان مې قسم

په بهواکۍ د پښتنو ، پښتونستان کښې چه دی
د عدالت او آزادۍ په دې دوران مې قسم
د پاک الله په مقدس ذات، او صفاتو باندې
هم په صمد او په غفار ، غنی ، رحمان مې قسم
«چه غلامی نشته اسلام کښې، نه په کفر کښې اوس»
نه په پښتو کښې اې پښتو نه په قرآن مې قسم
که زړونه یو شوه نو لا سونه به نژدې شی سره
د محبت او د یو والی په پیمان مې قسم
خود غرضیو نه که تېر شو و نو مراد ته رسو
په صداقت او په ضمیر او په وجدان مې قسم

مجاور احمد زیار

پښتونستان

زه د آزاد و فطر تو آرزو یم — د میلیو نو نو خاطرو آرزو یم
اوسم په مېنه کښې د پاکو زړو نو — د یو روښان ژوند د راتلو آرزو یم
د سو له د وستو انسانا نو سره — د امنیت د نهضتو آرزو یم
چه یې په مارنګینې کیږی پاڼې — زه د دنیا د تاریخو آرزو یم
د لویې ستري ایشیا په زړه کښې — د یو جهان د جوړېدو آرزو یم
د یو آزاد او معقول ژوند د پاره — د پښتونخوا د شا محلمو آرزو یم
د سر درو او د نګو د نګو غرونو — د باز شاهین او د زمرو آرزو یم
د ډېرو سترو ټبرو نو ، قومو — د لو یو لو یو او لسو آرزو یم
د محوان، زاړه احساسات و یاړی په ما — د خان غریب لو یو، وړو آرزو یم
د شجاعت او شهامت په نامه — د زړو محوانو ، مېړنو آرزو یم
ماضی او حال د واړه شاهد دی زما — زه د اوږدو اوږدو عمرو آرزو یم
د شهیدانو له قبرو نه پورته — د یتیمانو بې پلرو آرزو یم
زه د تور سرو کونډو رنډو زړو کښې — ډکه له هېلو امید و آرزو یم
د جیلخانو تورو تنبو نه اخوا — د غیرتیانو ننګیالو آرزو یم
یم پښتنو ته ، پښتنو ته میراث — د پښتنو الی او پښتو آرزو یم

اوس مې ته پیژنې که نه ای زیاره!
پښتونستان د پښتنو آرزو یم

نصرالله حافظ

له آزادۍ سره خبرې

خپلوا کې راشه دخیبر په څو کو
«خوشال» کوی د خوشالۍ خبرې

چه په زړه پورې نند ا ري و کړې
دستانړا تلو ته ئې تما شې و کړې

(ایمل) ولاړدی سپینه توره په لاس
د (دریاخان) په کاله چوړدی سرور

په کام قبر کښې ئې نغار ې و کړې
دوی یو له بله اشا ړې و کړې

کړې جنګې شوې د شهید په مز ار
د آزادۍ با زا ن په خلاصو وز رو

ستاهر کلی په ر پیدو کښې کو ی
ستادار مدار په ا لوتو کښې کوی

ستا په طلب کښې پښتنو ولیدل
دظالمانو رنګ په رنګ ظلمونه

په سردې زیسات پښتانه وزوړېدل
په ډېرو ډک کړل استعمار جیلونه

څوک شو دستا په پاکه مینه شهید
اوس ئې ولاړ په مزار سره توغونه

ډېرما شومان شول یتیمان بې پلاره
په خوب کښې کړی دادا، یا باغېرونه

پښتنې کو نډې میندې بوډې شولې
خو یندې په چیغو هلمی وزو نه غواړی

ملا د پلرو شوې په زا مټو ماتې
له خاورو پور ته کړې بشر په قبر

خو د آزاد ژوند مرا دونه غواړی
آزادۍ تا کښې د اعزت شته دی

په تا عزیز شی خلک ئې قدر کوی
ته دمظلومو لاس نیوی کړې مدام

تا سره دا رنګه قدرت شته دی
دا دې عجب بشکلی صفت شته دی

د جرس شور مې په غوږ و لګېږی
په کاروان سرای کښې د پښتون دزړه په

دا به راځی د آ زا دی قا فلې
اوس د غه د ښا دی قا فلې

د نهضت سالار ئې مخ کښې را غی
سادوانه کش که د اوښانو مهار

ور پسې وروسته د سپا لی قا فلې
راوله زر د آ زا دی قا فلې

دستا په دې سو دا کښې ګټه وینم
که ئې دسر په بدل را کړې موږ ته

د آزا دی متاع ار زا نه نه ده
قیمت ئې لږدی دا څه ګرانه نه ده

عبد الروف مخلص

داپښتونستان خود سپیڅلو پښتنو حق دی

داراته پاتې شوی د نیکونو او د پلرو حق دی
داد پخوانیو نو میا لیو میړنو حق دی
داد پښتنو دی هسې نه چه د پر دو حق دی
داله اوسه نه دی دازموږ آدعمرو حق دی
داپښتونستان خود سپیڅلو پښتنو حق دی

دلته ددې خاورې خپاره شوی داستا نو نه دی
دې مخکښې تیر کړی ډول ډول دو رانو نه دی
ډک ئې له همت او شجاعته تاریخونه دی
داوا قعیت ئې د هستۍ معلو مید وحق دی
دا پښتو نستان خود سپیڅلو پښتنو حق دی

ټول پښتون بلوڅ خپله دفاع او آزادی غواړی
قام وطن د پاره دژوندون او یه ښادی غواړی
دوی دغه مطلب دخپلې خاورې ابادی غواړی
دغه ښکلی ځمکه ئې د ژوند داو سید وحق دی
داپښتو نستان خود سپیڅلو پښتنو حق دی

مځکه د پښتون باندې خو بل څوک استید ی نشی
بل تیری کوونکی په داځمکه گرځیدی نشی
دغه لوړو غروته بیگانه څوک ورختی نشی
دغه دقام سیمه ددې ټولو اوسنو حق دی
داپښتو نستان خو د سپیڅلو پښتنو حق دی

دلته چه اوسیږی داسپیڅلی انسانان دی ټول
دا ددوی حقوق دی دوی ددغه وارثان ټول
گرد ه پښتان دخپلې خاورې مخلصان دی ټول
دا د اخستو دی کله داد پا تید و حق دی
داپښتو نستان خو د سپڅلو پښتنو حق دی

عبدالمالک جوهر صدیقی

زما ارمان

فضا ده لو یه د آرزو ګانو — افسوس چه مات دی دواړه وزرمې
ور تللی نشم مطلب په لوری — دمایوسۍ نه ډک دی ساغر مې
ساحل دی چیر ته اوزه یم چیرته ؟ — ګرداب دغم کښې ورک دی ګودرمې

دغم دنیاده دغم آهونه
داوښکو جوړ دی پکښې سیندونه

تېری چه زیات شی اوظلم زور شی — انسان مجبور شی شاړو میرو ته
چه واک ئی نه وی ژوندون ئی نه وی — حیات به څه کا څی ادیرو ته
آرزو مې وائی طاقت پیدا کا — پنجره کړه ما ته څه سر درو ته

بی دمه پروت ئی روح دې و تلی
ظالم و یشتلی ظالم و یشتلی

بلبل چه ژاړی چمن هم ژاړی — شبنم هم اوښکې په دوی نثار کا
ګل به پر شان وی له ډېره غمه — شفق لمن کښې وینې انبار کا
لباس بدل کړو هم زېړو ګلو — له مینا نو د غم یادګار کا

خو شحالی نشته ؛ هرخوا ماتم دی
د پښتون غم دی د پښتون غم دی

دحق په لیار کښې که زه شهید شم — جنت مې ځای دی ګټم وطن هم
دحق قیمت دی که هر څه زیاته — له مال و سر نه له ځان و تن هم
چه لا له زار بیا زما یادګار شی — خدایږو زه غواړم داسود کفن هم

خو چه آزاد بیا پښتونستان شی
هله پوره به زما ارمان شی

درد مند

جوش د پښتو تاریخ د قام ښکاره

ملګر و اوس دځه ویلو وخت دی د چاپه یادو ، دژړ لو وخت دی
غږ د آزادژوند د ګټلو وخت دی د آزادۍ او حق غو ښتلو وخت دی
تا ندی آرزو ګوری د رزا جوړه کړه
تا لند وو ریځو کښې ژړا جوړه کړه

د آدم خان د رباب ترنګ پکښې د درخا نۍ د مینې رنګ پکښې
مینه او وینه یو غور زنګ پکښې د یارانې سا تلو ننګ پکښې
جوش د پښتو تاریخ د قام ښکاره
هدف د ژوند ملی مرام ښکاره

نقش د قام او د ایمل نښې لا دی و لا ډې په مو ر چل نښې
هر یو د ښمن ته د اجل نښې هره ګولۍ کښې د مو ر چل نښې
اوس د قصو ئې دی حجرې ډکې
در وا یا تو ئې سر درې ډکې

د یا جوړې عمرا خان قصې د پیر روښان او خوشحالخان قصې
د عجب خان او د ریا خان قصې د سر خاوی او د بو لان قصې
د اند یښنو نه پیښو ر ډک دی
د تلو سو نه سمه او غر ډک دی

دځان د پاره خپل جهان غواړی خپل سر نوشت او خپل پیمان غواړی
خپله پښتو پښتو نستان غواړی د ځان دفاع قامی نښا ن غواړی
د غه هدف ته ر سیدل پښتو
خپل مستقبل تقدیر ټاکل پښتو

د غه آ ر زواو د اهیلې شته دی دا تلو سې او و لو لې شته دی
دا شو ا هد ا و میلې شته دی آ د نیکو نو سلسلې شته دی
دا سا لګره ئې د ملی تړو ن د باب نښه
ملګر و دا د حق غو ښتلو د حساب نښه

سیلاب «ساپی»

د خیبر آواز

پروت چه دغلیم مخی ته سد د سکند ریمه
خدایږ و هغه مورگه هغه ځو که د خیبر یمه

لوی شو مه وړوکی خونړی و انقلا بونو کی
ټول عمرمی تیر شود غلیم سره جنگونو کی
نکړ مه چامحوه په مد هشو طو فانونو کی
نه شوه ځوك کامیاب په ما په کلکو بمبارونو کی
جوړ چه له ننگونو ، غیرتونو اوچت غریمه
خدایږ و هغه مورگه هغه ځو که د خیبر یمه

یو خوامې مومند دی اتما نخیل دی ترکانی پرته
بل خوامې وزیر مسید دی خدایږ و میړنی پراته
غیږ کی مې شینواری افریدی لا پخوانی پراته
لرخو یوسفزی زلمی دی ، برهم درانی پراته

خوښ چه د خټکو اخکز و د زړگی سر یمه
خدایږ و هغه مورگه ، هغه ځو که د خیبر یمه
ډېرې صدی تیرې شوې تیرېږی دارمان سره
هر بدخواه ستون شوی را نه خدایږ و د خفگان سره
هرغلیم مې وړی دافسوس رومان دمحان سره
ډیر مې جنگولی سر د د هر پهلوان سر ه
تل چه هر غلیم ته د غم غشی په ځیگر یمه
خدایږ و هغه مورگه هغه ځو که د خیبر یمه
زه د ننگ غیرت نه جوړې شوی قافلې لرم
ورشه تاریخ وگوره د نگینې سلسلې لرم
لمر په شان ښکاره د همت ښې سپینې شغلې لرم
د غو غاړو تړو کی بی شماره زلزلې لرم

یاد په ننګ غیرت چه دی جهان کی لرو بریمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه د خیبر یمه

ډېرمې زغلولی غلیمان محمد جان خان په زور
ځوک مې پرزولی دایمل او دریاخان په زور
چاته مې ښودلی خپل عظمت د خوشالخان په زور
ځوک مې حیران کړی دغازی فخر افغان په زور
تل چه کامیاب کړی غږ د الله اکبر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه د خیبر یمه

ډېرو راته وار په وار اغزی لار کی کرلی دی
چالاد ګوندی نفاق تخمونه راشیندلی دی
چاکه ډېر جالونه دتزویر راغزولی دی
دوی په هر کوهی کی خدای پخپله غوږ زولی دی
زور د غلیما نو نه لښکر د ما ز یګر یمه
خدایږو هغه مورګه ، هغه ځوکه د خیبر یمه

چا چه په بدنیت سره تش ما پلو کتلی دی
ګاڼی ئی له ستر ګونه په هغه دم و تلی دی
ډېرو قو تو نو خپل زورونه از میبلی دی
ډېرو چپا و و نو خپل اسونه تیز ولی دی
لیك چه دا ژل نه د پښتون قوی سنګر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه د خیبر یمه

هوږزه داول نه د جګړ و سره اشنا یمه
مینه د میرویس ژوند د خوشال او احمد شاه یمه
لرو بر جهان ته دا په هر میدان کی ښایمه
نشم قبلولی اسارت د ننګ د نیا یمه
زړه چه د روښان ، عمراخان ، غازی اکبر یمه
خدایږو هغه مورګه ، هغه ځوکه د خیبر یمه

تل مې په لمن کی کاڼی بوټی انقلاب غواړی
شکې مې دغیږې تل د ننګ غیرت «سیلاب» غواړی
هره پرخه تیره مې دژوند آزاد شراب غواړی
هر مرغه مې ځانته ترانه او خپل رباب غواړی
ماساتی پر دونه د پښتون د زړه نظر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه د خیبر یمه

(ممنون)

زمانشه

زمانشه د اند پښتو نه پیدا
د مظلومی داو سیلو نه پیدا

په دې نشه کې کائنات محلیږی
دې کې جذبه احساس حیات محلیږی

داسی نشه ده چه خمار ښه لری
خوشالی نه لری قرار ښه لری

د محوانې مینې دا سرونه پیدا
زمانشه د اند پښتو نه پیدا

داسی نشه ګوری جنت کې نشته
د هر بې در ده په قسمت کې نشته

ګوری پیالو او په درمو کې نشته
د پیغلوشو ندو په نخرو کې نشته

دغه نشه ده د حسرت نتیجه
د پوهې فکر بصیرت نتیجه

دا د ژو رو فلسفو نه پیدا
زمانشه داند پښتو نه پیدا

زمانشه چه تری ژوندون نشه دی
ورنه هم نن او هم پرون نشه دی

په دې نشه کې آرزو ګانې زانګی
دې ته دخاوری پتنګان به زانګی

دغه نشه چه ترورخیال تری زیږی
دمرګ او ژوندخوندورسوال تری زیږی

د بدوور محو د لیدو نه پیدا
زمانشه د اند پښتو نه پیدا

راحه نشه شو داجهان بدل کړو
دننی ژوندون عنوان بدل کړو

محانته په زړه پورې دنیا پیدا کړو
پکښې پرکیفه مشغولا پیدا کړو

هلته له وینو جوړ شراب توی کړو
د انسانی غوښو کباب توی کړو

زما احساس د سرو لمبو نه پیدا
زمانشه د اند پښتنو نه پیدا

زه د غیرت د میخانې نشه یم
د ملیت د پیمانې نشه یم

هغه نشه چه تری خوشال نشه ؤ
ورنه میرویس ورنه ابدال نشه ؤ

چه دوحدت او دتړون نشه وه
د پرمختګ او مخکی یون نشه وه

زما سرود د زو لنو نه پیدا
زمانشه داند پښتو نه پیدا

د پښتنی عظمت جهان ته ورځم
د یادګارونو کهکشان ته ورځم

د سره شفق سره شبخون یا دوم
د سباؤن سره پښتون یا دوم

ما ته خیبر ایمل د ریا په زړه کړی
میوند او ګل د لته غزا په زړه کړی

د ممنون سوز خوږې پښتو نه پیدا

واسعی

د پښتو ادبی او شعری قاموس

(۱۰)

ویاړ: دا کلمه سوچه ادبی او له هره حیثه شعری لغت دی په وینا او نثر کښې نادره لیدل کېږی او په خبرو کښې یې پښتانه عموماً پرخوله خورا لږ راوړی یعنی غیر له نظم او شعر څخه یې بل چیری څوك لږ پیژنی د پښتو ژبی د نوی ژوندسره د نیم قرن را هیسته په معاصر نثر کښې رواج شوی او لږ لږ لیدل کېږی مأخذ یې د لرغونو ادباوو کلام او د قدماوو شعری دواوین دی. ددې لغت د استعمال لمن د پښتو په زاړه ادب او شعر کښې خورا اړته ده او د پښتو ژبې په ټولو زړو دیوانو کښې ډېر راغلی او هر شاعر پخپل کلام کښې راوړی دی دا لغت د اسماً اضداد و څخه دی اسماً اضداد هغه کلمات دی چه په دوو متضادو مفهومو کښې مستعملیږی لکه (بیع) چه را نیولو او خرڅولو دواړو ته ویل کېږی مثلاً په عربی کښې چه د بیع د مصدره څخه ماضی مطلق (باع) جوړشی نو دواړه معانی ځنی اخیستل کیدای شی او ترجمه یې داسی کېږی چه را نیولی ئې ؤ یا یې خرڅ کړی ؤ. و یاړ هم په پښتو ادب کښې په متخالفو معنا ؤ افتخار او خجالت وشرم دواړو بلکه د بې منت وړ یا او مفت په مفهوم لا هم مستعمل دی د افتخار په معنی خو دا لغت خورا ډېر افاده شوی او هر چارا وړی دی خو د شرم او ننګ او بې منت او ړیا په معنی یو ازې عبدالحمید ماشوخیل پخپل کلام کښې راوړی دی لکه چه وایی:

که دسپی په پیر وی مو می څوك یار
په دا کار دې اصلاً نه کا ویاړ عار

یادا: چه په نام فلك زده وی و یاړ یی مکړه
که دې چرې لګید لی وی تش نوك

او د ویاړ په معنی پدې بیت کې راغلی دی:

چه دا کا عاشقان بې ویاړه وصل ځان ته وا ئی عاشقان هله ادا

تخ مخ : دالغت په محاوره اوخبرو کښې دچا څخه نه دي ارويـدل شوي او په اوسني يالرغوني نثر کښې يې څرك چانه دي ايستلي اودپښتوټولنې په موجوده قواميسو کښې هم نه دي ضبط شوي مګر ظفراللغات دشرمنده، پښيمان ، پـريشان، پراګنده، ګډوډ په معنی اوډاکتر بليوانګليس هم پخپل قاموس کښې داوف، حسرت، افسوس اودشرم اوخجالت په معنی تفسير کړی دی. خوپه پښتو ادب او ددې ژبې په موزون کلام اوشعري نړۍ کښې يې يوازې موږ دماشوخيل په دې بيت کښې اورو چه وايي :

دهر چاچه به نظر د ده په مخ شو

بی اختياره به يې زړه پسې تخ مخ شو

مګر ترجمه يې په دې بيت کښې لکه بليو چه کړی ده په شرم اوخجالت نه کيږي اودامعنی نه ورسره لګيږي اوهيڅ مناسبت نه ورسره لري. دلته دمقام او موقع څخه داسې فهميږي چه تخ مخ دمتحيراو پريشان ،مات اومضطرب په معنی راځي اوپه دغه ټوګه او طريقه تفسير د بيت مفهوم ته نسبتاً يوخونداوررنګ ورکوي يعنی دظفر اللغات ترجمه په دې ځای کښې مناسبه ايسي، داکلمه په پښتو کښې په يوه بله بڼه او لهجه هم راغلې ده چه هغه د (تخ تخ) شکل دی که څه هم د(تخ مخ ـ اوتخ تخ) دواړه شکلونه خپل يوواحدمأخذ لري چه هغه د تخيدل يا تخنيدل مصدر دی او په فارسی کښې يې معنی (قتقتك) ده مګروروسته يې مشتقات دژبې په لهجوی جريان اوچلند کښې ولوېدل او دپښتنو په متفرقو سيمو کښې يوې سيمې دتخ مخ بڼه په واغوسته اودبلې سيمې څخه دتخ تخ په شکل واوريدل شو. خوبيا هم ددواړو اشکالو ترميانځ دمفهوم اشتراك موجود دی اومعنوی تشابه يا اتحاد يې نه دی بايللی مثلاً که (تخ مخ) چه دبرو پښتنو محاوره ده په بيت کښې دمتحيراو پريشان يامات اومبهوت په معنی ښه خوند کوي اوموزون ايسي نو (تخ تخ) هم بيا دلرو پښتنو (کندهار) په محاوره کښې په داسې صورت افاده کېږي چه دغې معنی ته ورته او په مشابه او نژدې مفهوم مستعمل دی دتشابه وجه داده چه د تخولو يا تخنولو په حال کښې هم دسړی دبدن تخيدونکی برخه داضطراب اوناقرارۍ وضعيت موندلی او دپريشانۍ اوناآرامۍ حال پرراغلی وی چه داترډېرې اندازې دزړه دهغه اضطراب اوپريشانۍ سره تشابه لري چه کوم وخت يې يومين اوعاشق دمينې په مختلفو حالاتو کښې داحساس څخه بې غمه نه وی .

د تخیدلو ماده په لږ څه تغیر او تبدیل د (ټوخیدل) په مصدر کښې چه فارسی ترجمه یې (سرفه کردن) ده هم موجوده ده. دلته هم هغه تشا به لږ و ډېر موجوده ده یعنی د تخیدل او ټوخیدل مصدرونه معناً او په مرتب اثر کښې یو څه سره نژدې دی داسې چه :

لکه په تخیدلو یا تخولو چه د سړی د بدن هغه نقطه ګرځل کېږی او بدیې ځنې راځی دغسې د ټوخ په حالت کښې هم د سړی د ننه سینه او کوګل توږل کېږی غوندې او تکلیف ور کوی خو صرف ددې دوو توږنو او ګرځل کیدلو ترمیانځ توپیر په کیفیت کښې دی چه یوه یو ډول توږنه او بله بل ډول ده مګر په توږنه کښې دواړه توږنې دی او مشترک حدیی یو دی.

یوه دیادولو وړ خبره دا هم ده چه په پښتو کښې هغه کلمات چه (ت) او (خ) یا (ب) او (خ) په کښې راغلی او دادوه توری یی لومړی او دوهم حرف وی اغلباً د کیفیاتو په معنی وی او زیاتره نفسانی معانی افاده کوی مثلاً لکه پخېل، دغه تخیدل یا تخنیدل دا معانی کله نفسانی وی لکه پخیدل، پخلا کیدل او کله کیمیاوی وی لکه پخیدل ددې باب لغات (هغه کلمات چه پ وخ یا ټ ؤخ یی په ابتدا کښې راغلی وی) په ژبه کښې لږ او محدود هم دی.

پخوږ: دالغت د پښتو ټولنی مطبوعه قاموس راوړی دی او په ترجمه کښې یی فشاروورته لیکلی دی وروسته یی په مصدری بڼه لیکلی او په (فشاردادن) یی ترجمه کړی دی. خو په شعر او ادب کښې ماته لومړی د ماشوخیل په کلام کښې په مخ راغلی او داسې یی راوړی دی :

هسې شان سره مجلس یارانو جوړ کړ
چه عشرت یې د جهان پکښې پخوږ کړ

د پښتو قاموس ترجمه خود بیته سره یوازې دا نه چه نه ور سره جوړ ېږی بلکه خو زده هم نه ورسره کړی ولی په هغه صورت کښې چه دلغت ترجمه په فشار سره و کړونو د وروسته نیم بیت تفسیر داسې راځی چه داسې مجلس یې جوړ کړی وچه عشرت ته ئې یې فشار پکښې ورکړ او حال داچه عشرت ته فشار ورکول د پښتو او پښتنو تعبیر نه دی او داسې ترکیب د چا څخه په وینا کښې نه اورېدل کېږی.

خو دیوه بل روایت په استناد چه پخوږ دانګورو یا بلی کمی میوې نښتیځلو شیرازو بو (عصاره) ته هم ویل کېږی د بیت ترجمه صحیحه راځی یعنی یارانو داسې مجلس جوړ کړی وچه د ټولنی نړی او جهان د عیش او عشرت خلاصه او نتیجه او (عصاره) وه. ددې روایت څخه موږ ته دوې سوبې په لاس راغلې یوه دا چه د لغت د معنی تصحیح وشوه او دوهمه د بیت د تفسیر خوند ورتیا.

يوه بله خبره چه دلته بايد وشي هغه داده چه دظفر اللغات څښتن د پخوړ لغت په خپل قاموس کښې نه دی قيد کړی او د (پ،خ) په رديف کښې يې نه دی راوړی مګر بالمقابل د (ن،څ) په رديف کښې يې د نخوړ لغت راوړی او په ترجمه کښې يې (پخوړ) ورته ليکلی دی او داسې معلومېږی چه (پخوړ) اردو کلمه ده ولې دی دخپل کتاب په ديباچه کښې وايی چه دی هر لغت يوه پلا په پښتو او بيا په اردو هم ترجمه کوی مګر د (نخوړ) ترجمه يې په پښتو کښې نه ده کړې او تش په اردو کښې يې (پخوړ) ورته ليکلی دی بياوروسته (نخوړول) مصدری شکل راوړی او د هغه په مقابل کښې يې لومړي د پښتو په ترجمه کښې (پخوړول) او بيا يې په اردو ترجمه کښې (پخوړنا) اردو مصدر ورته ليکلی دی.

ددغه لغت په باب کښې موږ دظفر اللغات دترتيب او سياق و سباق څخه دې نتيجې ته رسېږو چه (نخوړ) دظفر اللغات څښتن داردو لغت (پخوړ) څخه مفغن بولی او په عيني اردو مفهوم اومعنی پښتو ژبې ځنې اخيستی او فقط په لفظ کښې يې لږ تغير راوستلی (چ) يې په (څ) اوښتی د (ن،چ) برځای يې په (ن،څ) (نخوړ) ليکی. اوس به د ډاکټر بليو انګليس ډکشنری و ګورو چه هغه په دې لغت کښې څه وايی او پر کمه لار تللی دی. ده پخپل قاموس کښې يوازې د (ن،چ) په ماده کښې (نچوړ) ضبط کړی او په مقابل کښې يو وار داسې ليکی Squeeze چه حيثيم په فارسی کښې دفشار، نښتيګلو، دميوې څخه داوبو دايستلو، په زور ځا يو لو؛ په زور را ايستل ترجمه کړی دی او بيا يې دا عبارت (wring) ورته ليکلی دی چه حيثيم علاوه پر دمخنيو معانيؤ منحرف کول، اړول پورته و کښته کول، د يوه مخه څخه پر بل مخ کول هم ورته ليکلی دی ګواکې بليو دظفر اللغات دڅښتن څخه د يوه حرف په بدلون چه د (څ) برځاې يې (چ) راوړې ده مخا لفت نه دی کړی بلکه د (ړ) برځاې يې هم (ر) راوړې ده او دظفر اللغات (نخوړ) يې (نچور) په (ن، چ، ر) ضبط کړی دی. موږ دمخه وويل چه ظفر اللغات دا لغت داردو (نچوړ) څخه مفغن بولی نو لکه هلته چه يې (چ) په (څ) اوښتی او مفغن شوی دی دلته يې (ړ) په (ر) اوښتی پښتو بلل شوی دی نو که موږ د هغه اختلاف لنډيز وکړو چه د دې لغت په باب کښې دقواميسو ترميانځ هم دشکل او بڼې او هم دمفهوم او ترجمې په خوا کښې موجود دی بايد داسې جدول وليکو:

د قاموس نوم	د لغاتو بڼې	د لغاتو ترجمې
پښتو قاموس	پخول (پ ، خ) نخول (ن، خ)	افشردگی فشرد گی
ظفر اللغات	نخول (ن، خ) نخولول نخولیدل	پخول متعدی مصدر لازمی مصدر
بلیوړ کشنری	نچور (ن،چ،د) نچورول (ن،چ،د)	Asquceze, Wring To Squeez Wring

په پای کښې به موږ ددې لغت ټول له هغه بڼې چه سم زموږ د تتبع سره مختلفو قوامیسو ضبط کړی دی په شعراوادب کښې هم ښاغلو لوستونکو ته وښیو او د شعر او له خوا به ئې دهغو په کلام کښې وروړاندې کړو:

د نخول بڼه د خوشحال خان په کلام کښې:

لکه لوند خرخولی تاو کړی نم یی نه وی
بهلتا نه هسی نخول کړم پخپل اور کښې

د نخول بڼه د عبدالله په کلام کښې (ورکه خزانه):

په رخسار یی د سرو وینو چپې درومی
چه فراق کاد چا زړه به زور نخول

د پخول بڼه: د حسین په کلام کښې (ورکه خزانه)

د فراق ژړا می وچه شوه په زړه کښې
کړم پخول د مینی غم لکه ګنی

بیا د حسین په کلام کښې:

تنده می د هجر تلخا یی د زکندن شوه
نکړه را پخول هغه د لبر شیرین لپان

بیا د حسین په کلام کښې :

که د یار دمینې زور در با ندې راشی
بند په بند به دې پخوړ لکه ګنی کا

پخوړ د(پ،خ) په بڼه د عبدالمالك فدا په کلام کښې:

یادې در حمت په او بو داد نیا کنګا له کړه
جن او ملایك یې او سید لوته تیاره کړه
یا یې د قدرت په چارو غو نډه کړه سنباله کړه
خلاصه دټپوس نه د قمرۍ غریبي جاله کړه
داد دهریت فضا په خپل فضل پخوړه کړه
بله د نیا جوړه کړه یار به دد ئیا

(نور بیا)

پښتونومونه

محمد عالم اتمان

۱۳۳۵ر۱۰ر۳

څه رنګه چه انسانان واړه یو وجود او د خلقت له مخې د یوې درګې درګی ګڼل کېږی نو د انسانی ذهن په نزد د هغو یو له بله بېلول او بیا هر یو ځانګان ته پېژندل خورا ګران کارؤ.

خو ددې د پاره چه هغو په نړۍ کې یو له بله بېل شی او هر یو ځانګان ته و پېژندل شی، نو خدای پاك دا ازل په ورځ په هغه خپل خدایی حکمت سره هر اولس او ټبر ته بېله بڼه، بېل خوی، ګوښی دود، جلا نوم او ځان ته ژبه ورکړه او بیا یې ټول د دغو خپلو ملی ممیزو له مخې په مختلفو اولسو او ټبرونو ووېشل.

دا ازلی وېش دومره په زړه پورې او معقول دی چه هیڅ وټ او نقصان نه پکښې لیدل کېږی. او سړی په ډېره اسانۍ سره کولای شی چه هر ټبر او اولس یو له بله سره بېل او هر یو ځان، ځان ته و پېژنی.

دا ملی ممیزې څه رنګه چه ازلی وېش او خدایی حکمت دی، نو لازم دی چه هر سړی او هر څوك هغه ته په درنه سترګه وګوری.

که تاریخ وګورئ نو به پوه شئ چه زمونږ پلرو، نیکونو او نورو ملی مشرانو هر یو په خپل ټاپی د خپل ګران ملیت د پاللو او خوندی کولو د پاره څومره زیارونه ایستلی او بیا هر یوه په دې لار کښې څومره بی شماره ستونځی ګاللې دی، هو!

منګر ځینی کسان په پردی رنګ غولیدلی او خپله مرغلره یې په مرغچیچی بدله کړې ده دوی په خپلو زامنو او لوڼو د پښتو د خوږو نومو پرځای د نورو ژبو نومونه ږدی او له پښتونو مو څخه ورته (ګل آغا، شیر آغا، جان آغا) ښه ښکاری. دا کار له یوې خوا له خپل ملیت سره د دوی بی علاقه ګی ښیی او له بلی خوا د پښتو زاړه ګلالی نومونه له منځه باسی.

مونږ غواړو چه سپېڅلی پښتانه دې پلو ته متوجه کړو او له دوی څخه هیله وکړو چه پس له دې ورته پام وکړی او په خپل اولاد باندې د پردو نومو پرځای خپل خواږه

نومونه کېږدي . دادي اوس مونږ دغه ډول نومونه په وروسته کرښو کښې راوړو او د پښتو د خوږو نومو يو څو مثاله ښاغلو پښتنو ته وړاندې کوو .

«نارينه نامونه»

نارينه	خټک	څونډی ګل	غونډی	سالو ګل	کواټ
اميل	خټکی	غيرت ګل	غونډک	لال ګل	منګل
توری	زمری	باز	غونډی ګل	لالون	خاټول
تور ګل	زمرک	بازګی	خواځک	ودير	سدو
توريالی	زمريالی	باز ګل	ګوربت	ګوربز	اټل
هوتک	پری	زلمی	اڅک	منډوګی	ساوو ګل
مين	بريالی	وزير	کجير	سرکی	بنګک
لالی	څونډی	وزير ګل	کجير ګل	سور ګل	بنګی
	څونډی	مټک		سپين	بنګی خان
				سپين ګل	
خيرو	شينکی	اريا	مهرزی	غمی	نياز ګل
خايسته خان	شين ګل	خړ	بورا	پيرګی	ريدی
ښايسته ګل	لونګک	بورګی	ببری	بلبل	ريدی ګل
خوشال	لونګی	جنت خان	بابرک	توتی	ماڼو ګل
روښان	لونګين	جنت ګل	ببری ګل	توردلی	کټور
سيدال	لونګک ګل	لنډی	مستوخان	اورمړ	کټوری
ښايسته مير	ننګک	يار ګل	منګری	سيال	اټک
دري خان	ننګيالی	کروړ	نيازی	امرک	اټو
جومل	بخت	بډو ګل	شرنګک	ککی	اټو ګل
زيړ ګل	بختانی	بډک	زړګی	اتمان	لاټو
مستو ګل	بختيار	ډډک	سهار ګل	خانګل	پيرک
ورېښمين	بختيار ګل	ميرزک	پوپل	نياز	پير ګل
چينار ګل	ورېښمين ګل	ساندک	باتور	نښتر	څوکری
نازک مير	اينځر ګل	اينځری	چمبهلی	تازه ګل	نور ګل
کشمالی	ګل مير	مير باز	بازمير	تاووس	ګل نور
	انار ګل				

ښځینه نومونه

نسته	سپوږمۍ	اوږۍ	کوتره	اوږمکۍ	کجله
کجل ګله	زاڼې	زرکه	بڼکه	بنګو	بنګه
بنګو ګله	لونګه	لونګینه	لونګله	ښارو	ښاروکۍ
ښارو ګله	سنځله	سنتره	سدوګۍ	منازه	منازګۍ
منار ګله	لښته	زر لښته	لښتۍ	لښتو ګله	لالو
لالۍ	لال ګله	سمنده	سمند ګله	ښاپېرو	ښاپېرۍ
ښاپېر ګله	بدرو	بدرۍ	بدرو ګله	مابۍ	مابو
مابېکه	مابو ګله		لیلا	لیلا ګۍ	لیلا ګله
نتکۍ	نت ګله	روپۍ	روپۍ ګله	توتکۍ	غمو
غمو ګۍ	غمو ګله	شاؤ	شاؤ ګۍ	شاؤ ګله	زربخته
ګل بخته	نیک بخته	ګل بشره	ګل نامه	جنت ګله	مستانه
مستانۍ	مستان ګله	سپینه	خاټوله	ملوکه	سرکۍ
سرکو	سرکو ګله	زرو	زرو ګۍ	زرو ګله	مومنده
وزیر ګله	وزیره	وزیرۍ	څوکه	څانګه	کشمالۍ
ببرۍ	ببرۍ ګله	بوبرۍ	ملغلره	غاټوله	اناره
غونچه	ګل غنچه	غنچه ګۍ	غونچه ګله	غونچکه	انارګۍ
نارنجه	نارنج ګۍ	نارنج ګله	ببو ګۍ	ببو ګله	انار ګله
نازو	نازو ګۍ	نازو ګله	بسو	بسو ګۍ	بسو ګله
ګلالۍ	رڼا	رڼا ګۍ	رڼا ګله	سوناره	سونارګۍ
سونار ګله	ګل مکو	ګل مکۍ		ګل زېرو	ګل زېرۍ
مکۍ	مکۍ ګله	څونډۍ	څونډۍ ګله	ماڼکه	ماڼو ګله
ماڼۍ ګله	غوټۍ	غوټۍ ګله	ګل غوټه	ګل غوټو	ګل غوټۍ
غونډکه	غونډۍ	غونډۍ ګله	ککۍ	ککو	ککو ګله
ککۍ ګله	پاغوندۍ	پاغونده	زرمینه	زرو	زرۍ
زر ګله	زرو ګله	ببکه	ببۍ	ببۍ ګله	مینا
مینا ګۍ	مینا ګله	بختو ګۍ	بختو ګله	تیلا	تیلا ګۍ
تیلا ګله	رابیا	رابیا ګۍ	رابیا ګله	بختو	بختۍ

بختکه	بختوره	اشرپی	اشرپو	پېروزه	پېروزګی
پېروزګله	ښېوه	ښېوه ګی	ښېوه ګله	ډېوه	ډېوه ګی
ډیوه ګله	ورېښمینه	ورېښمین ګله	مری	مری ګله	مرغلره
هیلی	هیلو	هیلی ګله	ناوکی	شاترینه	رنګینه
زرغونه	زرغونو	زرغون ګله	ملاله	ملال ګله	مرغی
مرغکی	مرغکو	مرغی ګله	نانځکه	نېکمرغه	درخو
دورخی	درخکه	درخوګی	درخانی	درخو ګله	بلبله
	تورپېکی	پېکی	پېکې ګله	ښا ېسته	
	ښایستو	ښا ېستو کې	ښایسته ګله	سابوګی	
	سابوګله	رابو	رابوګی	رابوګله	
	مڼه	مڼه ګی	مڼه ګله	سیلی	
	سویلی	هوښیاره	وږمه	وږمه ګی	
	وږمه ګله	خټکه	خواځکه	هوتکه	
	منګله	وزېره	پسته	پستو	
	پستوګله	برېښنا	برېښناګی	برېښناګله	
	غرځنی	هوسی	هوسی ګله	کټوری	
	میرزکه	ګومله	زمری	زمرو	
	مستو	مستوګی	مستوګله	شیدوپی	
	شیدوګله	توتیا	توتیاګی	توتیاګله	

د ثابت خیرنه

د ورد ګو پیژندګلوی

په پښتنو کښې یوه داسې عنعنه شته :

((وینه ښه ده که مینه ؟ وایې وینه ښه ده وینه خودتن شریکه ده !))

د دې رښتیانی حقیقت د ښکاره کولو د پاره لازمه ده چه هروخت سړی له خپلې وینې سره رښتیانی مینه او کلکه علاقه ولری . لکه څنګه چه په نسبی او قومی سلسله کښې افراط کول ښه نه دی په همدغه شان پکښې تفریط کول هم یو ناوړه کار دی . د مظلومیت په وخت کښې د خپل ورور ، عزیز او هډوال مرسته د ملی غیرت یوه لویه نښه ده . او که داجذبه په چا کښې نه وی نو هغه به یو بې همته انسان وی.

د خپلې نسبی او قومی سلسلې ساتل د پښتونولی یو لوی رکن دی . له همدغه امله پښتانه خپله نسبی څېړنه یوه لویه پښتنی وظیفه ګڼی .

دا دی اوس زه د پښتنی و جیبې او پښتونولی پالنې له مخې د ورد ګو دستر قوم په باره کښې خپله څېړنه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم . په ځینو تاریخو کښې چه د پردیو دښمنانو په تحریك لیکل شوی دی دورد ګولوی پښتون قبر (سیدان) بلل شوی دی .

دا خبره د خارجی استعمار د ناوړو نظریو یوه وړه نمونه ده چه په دې هیواد کښې ور څخه پاتې ده . په اول کښې دغسی تاریخونو پښتانه د بنی اسرائیلو په جمله کښې داخل او له بل وطن څخه راغلی خلك یې و بلل او له دې کار څخه د دوی هدف دا وچه که مغول د دې خاورې نه دی ، نو پښتانه خو هم د بل ځای څخه راغلی خلك او پر دی دی .

دغه استعمار لا په دې هم قناعت و نه کړ بلکه په خپله د پښتنو په منځ کښې د بیلتون د راوستلو د پاره یې هم زیارو و یست او پښتانه یې جلاجلا نژادونه و بلل . څوك یې په عربو پورې مربوط او سیدان بللی دی . لکه ګنډ پور - ورد ګ مشوانی - هنی او بختیار پښتانه قبرونه او ځینی نور پښتانه یې په بل ترتیب او بل نامه له خپلو خپلو انواو نسب څخه پر دی او بیل کړی دی . لکه چه داډول خبرې په ځینې کتابو کښې چاپ شوی هم دی او د خلکو د افکارو د فاسد ولو د پاره په خلکو کښې خپرې شوې دی چه ځینې سادګان پرې باور هم کوی .

د پښتنو د اسرائیلیت موضوع خود دنیا پوهانو تردید او دروغ کړې ده او پښتانه هم پوه شوی دی. نور نو په دغې خوا کښې څیړنې ته ضرورت نشته.

او د وردګو او د پښتنو د ځینو نورو ټبرو نو د «سیادت» موضوع هم ځینو پوهانو څیړلې ده او په معقولو دلیلو نویې رده کړې ده.

اوس زه غواړم چه لومړی د خپل نیژدې قوم او نسب - ؛ وردګو په باره کښې څېړنه وکړم او د دوی د تاریخ یواړخ څرګند کړم.

د وردګو استوګنځی:

وردګ تقریباً د (۲۵) میلو په مسافه د کابل د جنوب غرب خواته او سپږی د شمال له خوا په بهسود و پورې او د غرب خواته د غزنی د جغتو په حکومت پورې او د جنوب خواته په لوګر پورې او د شرق له خوا په میدان پورې د دوی ټاټوبی نښتی دی.

له شرق څخه د غرب خواته څلور پړاوه د وردګو مسکن اوږد پروت دی او شمالاً او جنوباً له لوګر څخه تر هزاره جات پورې سورور دی.

د وردګو د سیمی د پراخوالی او د دوی د نفوسو د ډیروالی له امله په دې وخت کښې د داخله وزارت له خواهلته دوه حکومتونه جوړ شوی دی: پخوانی حکومت یې د کابل او غزنی پر سړک په سید آباد کښې دی او دوهم حکومت د ((چك)) د حکومت په نامه د چك په سیمه کښې جوړ شوی دی.

د وردګو د نفوسو ډیر والی:

د وردګو د ټبر نفوس دومره زیات دی چه د دوی له خپل اصلی استوګنځی څخه پرته په نورو ځایو کښې هم شته لکه د کلات، مقر، کندهار، هرات، ګرشك شبرغان، پل خمری، قطغن، پکتیا او مزار شریف په سیمو کښې هم د وردګو کلی شته چه له پخوا زمانو څخه یې هلته استوګنه غوره کړې ده.

د پروان د کاپیسا حکومت مربوط د تګاب په السای نومی ځای کې هم وردګ شته چه ژبه یې د هغه ځای له خلکو سره د ګډون په وجه پشئی شوې او په پشئې خبرې کوی وایې چه د بامیانو د غنډك د درې او سیدونکی ټول وردګ دی خو ژبه یې اوس پاړسی ده او د میمنې د ولایت د کوهستان په علاقه داری کښې هم زیات شمیر وردګ شته او سپن ږیری یې تر اوسه پورې هم په پښتو ږغیږی خو زلمیانو یې پښتو هیره کړې ده.

د ننګرهار په سیمو کښې هم وردګ شته لکه په کونړ او لغمان کښې د وردګو ځینی

کلی موجود دی او د کونړ په برسر بریکوټ کښې د (ارناوی-اوچترال) ترمنځ دوردګو لوی ولس پروت دی او د پکتیا په ولایت کښې د خوست په اسمعیل خیلو کښې د حیدر خیلو په نامه دوردګو یوه لویه قبیله شته چه تقریباً (۱۵۰۰) کورونو ته رسېږی او اکثریې وردګ دی.

په کورمه کښې د ملی خیلو په نامه دوردګو یوه قبیله شته چه د (۲۰۰۰) کورونو په حدود کښې به وی او دوردګو د شنیز د درې د ملی خیلو د طایفې سره اوس هم روابط او تګ راتګ لری.

وایی چه د پښتونستان په چترال کښې دوردګو دوه سوه کورونه استوګنه لری په باجوړ کښې هم د سلو کورونو په حدود کښې وردګ شته. (۱)

په حیات افغانی کښې لیګی :

په چچهزاره، راولپنډۍ، پیښور او د پښتونستان په نورو سیمو کښې ځای پر ځای دوردګو د قوم لوی لوی اولسونه شته (۲).

دا چه دوردګو د ټبروګړی په دومره وتنونو کښې خپاره او استوګنه لری د دغه ټبر د ډېروالی دلیل دی او څرګندیږی چه دا قوم هم لکه د پښتنو د نورو ټبرونو په شان ډېر لرغونی دی چه دومره ډېر شوی دی.

دوردګو په قوم کښې ډېر نومیالی کسان لکه محمد جان خان غازی او عبدالغفور آخوندزاده غوندې مجاهدین او د وطن خدمتګاران تیر شوی دی او په هر عصر کښې وردګو ښه عالمان درلودل اوس هم ښه ښه عالمان پکښې شته وردګ عموماً د ښه ذکاوت خاوندان دی وردګ ښه سکه ناک او غښتلی خلک دی او په ډوډۍ ورکولو او میلمه پالو کښې شهرت لری.

دوردګو د نسب سلسله :

دانسابو لیکونکو د «وردګو» نسب د پښتنو د کرلاڼی (کرډې) په سلسله کښې راوړی دی. لکه چه د هغوی په حواله خورشید جهان لیکی چه: کرلاڼی دوه زامن درلودل:

یو کودی او بل ککی.

---

(۱)-د کابل مجله د ۱۳۳۸ کال دریمه ګڼه.

(۲) حیات افغانی ٤٤۲ مخ.

او د نوموړی کرلاڼی نیکه دد ووزا منو (کودی او ککی) محو محات او اولاده په دی ډول بیا نوی :

دلازاك ،او رګ زی ، خوګیا ڼی ، اپریدی ، خټك ، وزیری، شیتك، دوړ، محدراڼ ، توری ، محا محی ، منګل ، ور دګ ، تڼی ،هنی ،مقبل(۱)

یعنی دور دګو ټبر یې د پښتنو د کرلاڼی دمحو محات(کرړی) په سلسله کښی را وړی او په پورتنی ترتیب یې ذکر کړی دی .

حیات افغانی هم دوردګو نسب د کرلاڼی په سلسله کښې راوړی دی لکه چه دکرلاڼ دد ووزا منو (کو دی او ککی) محومحات داسې بیا نوی :

دکو دی محو محات :

وردګ ، موسی زی ، منګل ، توری ، تڼی ، دلازاك اورکزی ، مقبل او د ککی محو محات داسې بیا نوی :

خو ګیا ڼی ، شیتك ، اپریدی، خټك ، محدراڼ ،وزیر، اتمان خیل ، ،محامحی(۲)

په دغو دواړو کتا بو کښی چه د پښتنو دانسا بو دلیکو نکو په حو الو لیکل شوی دی د« وردګو» ټبر دکر لاڼی نیکه دمحو محات په سلسله کښې راغلی دی یعنی دوردګو قوم یې دکر لاڼیا نو (کرړی) پښتنو د ښا خو نو څخه یو ښا خ ګڼلی دی . او په پښتنو کښې له پخوازمانو څخه داسې عنعنه ده چه(وردګ دمحدراڼ سکه ورور دی) مګر په حیات افغا نی کښی وردګ دکودی بن کرلاڼ په اولاده کښې را غلی دی اومحد راڼ یې دککی بن کر لاڼ له محو محات څخه ګڼلی دی .خوزماعقیده دا سې ده چه دا پښتنی عنعنه به رښتیا وی چه ور دګ دمحدراڼ سکنی وروردی .

دکرلاڼ نیکه نسب :

په حیات افغانی او خورشید جهان او آئینه او نورو کتا بو کښې چه د پښتانه قوم دنژاد او نسب بیان پکښې مفصل شوی دی لیکی چه کر لاڼ دغوری شا هزا ده زوی او محو محات دی (۳)

په آریا نا دا ئر ة المعارف کښې دا سې راغلی دی :

اتمان زی او احمد زی (وزیر) دموسی درویش بن خدری بن وزیر بن سلیمان بن

---

(۱) ـ خور شید جهان ۲۳۷ مخ .

(۲) ـ حیات افغا نی ۳۰۷ـ۳۱۱ مـخ .

(۳) حیات افغا نی ۳۰۶ مخ خورشید جهان ۲۳۶ مخ آئینه او د ۷۰ مخ .

(کرلاڼ) بن شاهزاده غوری له اولادې څخه دی (۱).

له دغو پورتنیو لیکنو څخه څرګندیږی چه «وردګ» د کرلاڼ نیکه له ځو ځات څخه دی او نو موړی نیکه دغوری شاهزاده ځو ځات دی نو په دې حساب دور دګو د نسبت سلسله د پښتنو غوریانو په سلسله ګډیږی او د پښتنو دیوې ممتازې یعنی غورې کورنۍ له ډلې څخه دی او په پای کښې لوی سهاك پاچاته د دوی د نسب سلسله رسیږی.

وردګ او سید محمد ګیسو دراز :

لکه چه وړاندې وویل شول دمغولی استعمار په دورو کښې له پښتنو سره ډول ډول ناوړې شوی او په ډول ډول تورونو یې تورکړی دی. ددې خبرې وجه دا وه چه په مرکزی ایشیا کښې هر وخت پښتانه دمغولو مخې ته دریدلی دی او دهغوی حاکمیت ته یې غاړه نه ده ایښی.

لکه چه تاریخی واقعات شاهدی ورکوی دمغولو له راتلو څخه وروسته اول دبابا هوتك او شیخ ملکیار شخړې او مبارزې له مغولو سره، بیا په هند کښې د پښتنو پاچهانو او دشیر شاه سوری مقابلې له مغولو سره هر چا ته څرګندې دی بیا د بایزید روښان او دده دزامنو مقابلې بیا وروسته د ستر پهلوان خوشحال خان خټك یرغلونو دمغولو پر زړونو باندې داغونه لګولی دی دهمدغو دلیلونو له امله مغولو کوښښونه وکړل چه پښتانه په رازوازد سیسو له پښو وغورزوی او په عوض کښې په خپله ددې خاورې واکداران پاتې شی.

بنا پر دغه منظور دور دګو پښتون ټبر له خپل قوم او نسب څخه جلا کړی په بل چا پوری یې تړلی دی په دې ډول چه «وردګ، ګنډپور، هنی او مشواڼی پښتانه ټبرونه یې د (سید محمد ګیسو دراز) ځو ځات او اولاده بللی دی» دا یوه له ځانه جوړه کړې خبره ده او کوم اساس نه لری.

په تذکرو او تاریخ کښې راغلی دی چه شیخ (سید محمد ګیسو دراز) (۲) بن سید جلال بن سید اسمعیل اعرج خلف امام جعفر صادق (رح) له ترکستان څخه دسلیمان غره ته راغی څو موده یې دغلته استوګنه وکړه شیر اڼی او کاکړان او کرڼیان پښتانه به ورته راتلل

---

(۱)- آریانا دائر المعارف ۲ جلد ۳۹۸ مخ.

(۲) - په روضة الاخبار کښې لیکی چه شیخ محمد یې ځکه ګیسو دراز باله چه اوږدې کوڅې یې لرلې.

او دده له فیض څخه یې استفاده کوله څه موده ور وسته نوموړی شیخ صاحب هند وستان ته ولاړ.

لومړی د خواجه معین الدین ابوالحسن چشتی مزار ته ورغی. له دغه ځایه ډیلی ته ولاړ په دغه وخت کښې سلطان تغلق په ډیلی کښې پاچاو په (۸۱۰) هجری کال میرصاحب دکن ته ولاړ په «ګلبرګه» کښې یې استوګنه غوره کړه او دغلته یې خانقاه جوړه کړه.

او نوموړی شیخ په (۸۲۵) هجری کال په دغه ځای (ګل برګه) کښې وفات شو او په همدغه ځای کښې یې مزار جوړ شو. دده اولاده تر اوسه پورې هلته د دکن په ګلبرګه کښې استوګنه لری او ټول څو کورونه خلك دی. (۱)

حیات افغانی لیکی چه په (۷۵۰) هجری کښې د بنو په سیمه کښې د بنو څیو پښتنو او د منګلو او هنی پښتنو ترمنځ جګړه وشوه منګل او هنی یو طرف او بنو څی بل طرف وو او هنی پښتانه په دغه عصر (۷۵۰ هـ) کښې په بنو کښی موجود او خو را لوی قوم او ډیر زیات نفوس یې لرل او سید محمد ګیسو دراز تقریباً سل کاله ور وسته په (۸۱۰-۸۲۵) هجری کښې ژوند کاوه هغه هم په هند وستان کښې، نو دا په څه ډول ممکنه کیدای شی چه څو ځات دې ترمورث وړاندې په (۷۵۰) کښې پیدا شوی وی بلکه هیڅ ممکنه نه ده چه مورث نه وی او څو ځات یې تر ده دمخه وی.

بل داسې روایت دی چه د سلطان محمود غزنوی په عصر (۳۸۷) هجری کښې د وردګو ټبر تقریباً څلور سوه کاله د سید محمد ګیسو دراز تر زمانې (۸۱۰-۸۲۵ هـ) پخوا په دغه اوسنی ټاټوبی کښې موجود او دالته یې استوګنه لرله او وایی چه د نوموړی سلطان په لښکرو کښې د وردګو د ټبر افسران او عسکران وو.

نو دا به د خند اخبره نه وی چه د څلور سوه کاله وړاندې موجود قوم (وردګو) نسبت څلور سوه کاله وروستنی سړی ته وشی.

بل وایی چه بابر شاه مغول په (۹۱۰) هجری کښې افغانستان ته راغی په دغه وخت کښې د (وردګو) د قوم شمیر په زرها و نفوس وو نو دا به کوم عقل ومنی چه د سید محمد ګیسو دراز له زمانی (۸۲۵ هـ) څخه د بابر تر زمانې (۹۱۰ هـ) پورې چه څه کم یوه پیړۍ کېږی، د وردګو او ګند پورو او مشواڼیو او هنیو دومره بې حسابه نفوس چه وطنونه پرې ډك دی او په وطنو کښې خپاره دی منځ ته راشی او یوه شخص ته دې منسوب شی چه هغه هم په هند کښې ژوند کاو. بل مخزن افغانی لیکلی دی چه په (۸۵۵) هجری کښې سلطان بهلول

(۱)- خورشید جهان ۲۷۷ مخ- حیات افغانی ۴۲۶ مخ.

لودی په ډیلی کښې پاچاو اوسید محمد ګیسو دراز په(۸۲۵)هجری کښې په دکن کښې ژوندکاوه اودلو دی پاچهانو په محفل اوعساکرو کښې ګنډ پور وردګ او هنی اومشواڼی پښتانه داخل وو نوڅه ډول کید ای شی چه په دومره لنډه موده کښې دې دیوه سړی ځو ځات دومره زیات اوډېرشی چه لکو نوته رسېږی (۱).

دوردګ نوم :

اوس په دې باب کښې دښاغلی پوهاند رښتین څیړنه هم راوړو نوموړی دافغانستان د تاریخ په حواله دوردګو په قدامت رڼا اچوی اود(وردهکا) کلمه په لاندې ډول څیړی:

«دانوم په اوستا کښې دیو څو قومونو دپاره راغلی دې لکه چه په دی فقره کښې وایې:

ویشتاسب پاچاله قربانیو وروسته له خدای څخه وغوښتل چه ماته دومره قوت راکړه چه: دشیطانانو عبادت کوونکی وو ژنم اود (وردهکا) قومونه دحیواناتو له اطاعت څخه خلاص کړم او هغوی په سوونو اولکو نومړه کړم داوستاله دغې فقرې څخه معلومیږې چه وردهکا دیو څو پخوانو قومونوم ؤ. اوغالبه داده چه داقومونه له اریائې قومونو څخه ووځکه ویشتاسب ددوی دآزادۍ دپاره له خدای څخه قوت غوښتی دی. دانوم په موجوده وخت کښې له (وردك) سره اړخ لګوی اود (وردهکا-وردك) ترمنځ لفظی شباهت اونژدېو والی زیات دی بلکه کټ مټ یوشی دی. نوله دې کبله ویلای شوچه زموږ موجوده وردګ هماغه قدیمی وردهکادی چه ذکریې په اوستا کښې راغلی دې.» (۲)

له دغی څیړنې اود (وردګ) دلفظ څخه چه یوه پخوانۍ اریائی کلمه ده څرګندېږې چه دا قوم ډېر پخوانی قوم دی او داپخوانی نوم ورباندې ایښودل شوی دی چه له اوسنی وروستنی عصر سره په تیره داسلام له عصر سره خو بیخی نه جوړېږی ځکه کوم وخت چه داسلام دین دې سیموته راغلی دی دهغه عصر څخه وروسته ټول نومونه داډول نومونه دی چه داسلام نښه هرومرو ورسره وی . لکه چه داسی روایت شته چه دپښتنو یومشرچه(قیس) نومید دڅو نورو پښتنو په ملګرۍ عربښتان ته دحضرت محمد(ص ع) حضورته ورغی داسلام مقدس دین یې قبول کړ . نو هغه خپل پخوانی نوم واړاوه او(عبدالرشید) نوم یې پرځان کښېښود . او دوردګ ،توخی ، اندړ ، تره کی، ځدراڼ ، خټك ،ځاځی ، خروټی، کاکړاوداسې نورد پښتنو نومونه

(۱) حیات افغانی ٤٢٦_ ٤٢٧ مخونه .

(۲) - کابل مجله د۱۳۳۸_۳ګنه .

ټول ډېر پخوانی اریائی نومونه دی چه له اسلامی دورې څخه ډېر زیات په پېړیو پېړیو چه داهم د پښتو او پښتونخوا د زیات لرغونتوب نښه ده او له اسلامی دورې څخه پخوانی معلومېږی .

دوردګو خیلونه :

دوردګو مشهور خیلونه دادی : مایار ، نوری ، میرخیل ، ګدای خیل ، خورم خیل ، مسری خیل ، ادین خیل ، ملکیارخیل ، لړم خیل .

دوردګ نیکه محوحات په دغو خیلونو ویشل شوی دی او دغو خیلونو د پلرونو نومونه چه دوردګ به یا زامن او یا به یې لمسیان وی لکه مایار ، نوری ، میر ، ملکیار ، ګدای ، خورم ، مسری ، ادین ، لړم ـ ټول داډول نومونه دی چه پښتنی او لرغونی اریائی معلومېږی او د اسلامی دورې سره اړخ نه لګوی .

له ثقافة الهند څخه د استاد

فریدرك هیلر په قلم : دعزیز الرحمن « سیفی » ترجمه

په غربی فکر د شرقی ادیانو تأثیر

حقیقت دادی چه غرب ته لـه دریو دینی میدانونو څخه شرقی فکرونه ورغلی او هغه ئې تر یوې اندازې دخپل تأثیر لاندې راوستلی دی چه هغه له چینی حکمته او هندی باطنی مذهب او بودیت (چه دهندی بـاطنی مذهب یوه څانگـه ده) او اسلامی تصوف څخه عبارت دی .

چینی حکمت

په غرب کښې چینی فکر د تبلیغ دپاره پههغه وخـت کښې داول محل دپـاره زمینه برابره شوه چهمسیحی مبلغین چین ته ولاړل او هغوی اول خپل دینی روابط له منو رو خلـکو سره قایم کـړل . په هغه کتاب کښې چه څلورو مسیحی مبلغینو لیکلی او په پاریس کښې په ۱۶۸۷میلادی کال کښې چاپ شوی دی د کونفیوشیوس (Kung- gn - tze) ستاینه پهډېرو خوږو عبارتونو کښې شوی ده چه مطلب ئې دادی: دی په حکمت او نفوذ کښې د ټولو فلاسفه ؤ څخه لـوړ او د روحی فلسفې او سیاسی حکمتونو استاد دی .

دغه مسیحی مبلغین دا نظریه لری چه داروپا په فلاسفه ؤ کښې هیڅوك په نفوذ او فلسفه کښې د کونفیو شیوس مقام او درجې ته نه دی رسېدلی او دده ټول تعلیمونه دانجیلونو د تعلیمونو د اصولو سره سم او برابر دی، المانی فیلسوف گوتفریدو یلهلم لبنز (Gothfried Wilhelmlubniz) به تل دا نظریه څرگندوله او په خپلو خطونو کښې به ئې تل مسیحی مبلغین دې خبرې ته تشویق کول چه باید تاسې د چین څخه تل علمی هیئتونه غرب ته راوغواړئ په دې ترتیب به دغه هیئتونه د څه مودې د گډې استوگنې په اثر دیو بل د طبیعی او دینی چارو په نظریاتو او مـاهیتو نو سره پوهشی او له اروپا څخه د مسیحی هیئتونو د تگ په اثـر به په شرق کښې دوحی د دین یعنی مسیحی دین د تبلیغ دپاره زمینه برابره شی او د هیئتونو د دې تبادلو په نتیجه کښې به په خلکو کښې تر یوې اندازې فکری نژدې والـی

پیدا او ددې کار په اثر به دسولې یوه هوسا نړۍ جوړه اوو دا نه شی لکه چه دکریستیان وولف (Christian Wolff) او دی سنادام فلوسیفیا پراکتیکا (De Sinarum Philosophiapractica) دهغو مشهورو خطابو څخه چه په دې موضوع کښې ئې ویلی دی کټ مټ همدغه پورته مطلب او نظریه څرګندېږی ، دوی په خپلو خطبو کښې دکونفیوشیوس پیاوړی حکیم او فیلسوف ستاینه په دې ډول کوی : دی د چین د جهانی حکمت مؤسس او دی د اسمان نه چین ته دسوغات په ډول ددې دپاره را لیږل شوی دی چه دی دغه خلك دهلاکت او ګناهونو نه خلاص او دغفلت دخوب څخه را بیدار کړی (وولف) وائی چه دده په تعلیمونو کښې مالوی مزیت داولیدچه دده تعلیمونه دفطری عقلیت او طبیعت څخه مخالف نه دی او دعقلیت او فطرت سره بیخی سم او برابر دی؛ دغه پیاوړی وائی :

دادخدای لږی فضل دی چه، مونږ ډېره موده وروسته اوس په چینی حکمتو نو پوه شوو ـ مګر ډېرخلك داسی هم شته چه هغوی محانونه مسیحیت ته منسوب ګڼی خو دمسیحی تعلیمونو دحقیقت څخه بیخی خبر نه دی ، او داسی خلك هم شته چه په زړونو کښې دکونفیوشیوس دنظریاتو او چینی ثقافت ډېرقدر کوی مګر دحقیقت څخه ئې خبر نه دی ولتیر (Voltaire) وائی چه زموږ دپیاوړو او لویو حکیمانو او فلاسفه ؤ څخه هیچا هم دکونفیوشیوس څخه داسمانی مبدأ بنسټ جګ او پورته نه دی ایښوولی لکه چه دی: لیکی چه خدای په ما داسی فضل کړی دی او زما سره دخدای داسی مرسته ملګری دی چه ما ته هیڅوك ضرر او تکلیف نه شی رسولای؛ دده معنوی قوت دفولادو څخه ډېر مزبوت دی او دی دعادی بشری اخلاقو څخه ډك ؤ، ما دکونفیوشیوس په تعلیمو نو کښې هغه شیان ولیدل چه هغه په مسیحی کلیسا ګانو کښې نشته یعنی دهغه دین او اخلاقیات یوازی په سبب او تعقل ولاړ دی؛ او بل شی ته هیڅ حاجت نه لری . دفرانسې عقلی ژوند دمسیحی تعلیمونو دفترة په وخت کښې دچین دحکمت او چینی حکمت دمبادیو لاندې راغی او دهغو پام او فکرئې دژوندانه خواته راوګرځاوه.

دالمان دخلکو دافکارو دتنویر په عصر کښې ترډېرې اندازې د دغو خلکو فکرونه دچینی شعر د تأثیر لاندې راغلل، او دغربیانو دعقلی منا هبوتو دپیروانو په نظر کښې کونفیوشیوس لکه دسقراط او **محمد(ص)** غوندې دفطری او عقلی دین نمونه وګڼلای شو، او چینی مفکورو په غربی ادب کښې لوړ مقام ونیو لیکن « ګویتې» دچینی حکمتونو دتصوفی او اخلاقی اړخونو دډېرزیات تأثیر لاندې راغی لکه چه

داحقیقت دده دهغو اقتباسونو څخه څرګندیږی چه دچینی ادب څخه ئې په دې موضوع ګانو کښې کړی دی او داحقیقت دده دهغو اشعارو څخه هم په پوره ډول جوتیږی چه په خلکو کښې د «المواسم الصینیة الالمانیة» په نامه یادیږی، داټولې خبرې په هغه تأثیر ډیر ښکاره دلالت کوی چه دچین فلسفې د غرب دادیبانو او شاعرانو په افکارو کښې کړی دی.

دنولسمې پېړۍ په سر کښې غرب د «تاوتی کنګ» «Tao-teh-King» نومی کتاب سره آشنا شو چه «لاوتسی» (Lao-tze) تألیف کړی او لیکلی ؤ دا کتاب په ډېرو ژورو تصوفی مبادیو او ډېرو جګو او عالی حکمتونو مشتمل دی «ابلی رموسات» (Able Remosat) په خپله هغه وینا او خطابه کښې چه دفارسی ژبې په اکاډیمی کښې ئې کړې وه دا حقیقت څرګند او ښکاره کړی ؤ چه لاوتسی دفیثا غورس او افلاطون ساری او انډول سړی ؤ، دا کتاب په غربی نړۍ کښې په پرله پسې ډول په ډېرو ځایو کښې په ډېرو ژبو ترجمه شو، او ډېرو خلکو ددې کتاب په اقتباسونو پیل وکړ، او ډېرو مترجمینو ددې کتاب په ستاینه کښې ډېر ښه ښه نظریات څرګند کړل، «پول کارس» (Paul Carus) نومی امریکائی پوهاند لاوتسې د بشری نړۍ یو پیاوړی مفکر ګڼی دغه پوهاند دلاوتسې په ستاینه کښې وایی چه دلاوتسی کتاب د بودایی پخوانو کتابونو او یو مذهبی کتابونو سره بالکل سم او برابر کتاب دی.

دغه پوهاند په دې لړ کښې دا حقیقت هم څرګند وی او وایی چه: هغه مشابهت چه دلاوتسې او بودا او عیسی په مبادیو کښې لیدلی کیږی ددې کتاب مزیت یې ډېر زیات کړی دی.

سره ددې چه له د غوټو لو څخه هر یو د خپلو دینی مبادیو په اهتمام کښې له ډېر غور څخه کار اخیستی دی.

ځینی نور پوهان د لاوتسې نظریات د «مستر آخارت» (Meistreckhart نظریاتو ته ورته ګڼی، د دینی کتابونو دور وستیو مفسرینو څخه «اروین روسل» (Erwin Roussell) هغه مفسر دی چه په چین کښې ئې ډېر کلونه د چین د حکومتونو او فلسفې په تحقیق او پلټنه کښې تېر کړی دی، دا پیاوړی مفسر د تاو تا کنګ نومی کتاب په خصوص خپله نظریه داسې څرګند وی «دا کتاب د بشر د روحی حرکتونو په تاریخ کښې بې ساری او بې جوړې کتاب دی»

ورپسی دغه پیاوړی د دې کتاب په ستاینه کښې وایې چه : دا کتاب یو داسی نادر کتاب دی چه انسانیت ته د دې د پاره وربخښل شوی دی چه د دې کتاب په وسیله الله پخپله په انسان کښې تجلی وکړی او خپل ذات هغو خلکو ته ښکاره او څرګند کړی چه هغوی داورېدلو سره مینه او علاقه لری ؛ تردې وروسته دغه پوهاند داسې وایې چه : دا کتاب د ځای او زمانې د قید او حدودو څخه ډېر جګ او پورته دی او ترراتلو نکو ډېرو پېړیو پورې به د لاوتسی روح په خلکو کښې ښکاره او موجود وی ، مسیحی زعیمانو د دې کتاب عظمت ته چه د حکمت مجموعه ده د احترام سرونه ټیټ کړی دی.

دروم د کاتولیک دینی زعیم « هارمان ـ شل » په دې حقیقت اعترف کوی چه په فلسفی کتابونو او صحیفو کښې پرته له دوو پخوانو او نوو مذهبی کتابونو څخه بل دا ډول کتاب نه شی پیدا کېدلای چه هغه کتاب دې په دینی او روحی مسئلو کښې د دې کتاب غوندې دقیق بحث او ژورې څېړنې کړی وی « پروفیسر ګیو لیاس ګریل » چه په پخوانو مذهبی کتابونو کښې د ډېرو مطالعو خاوندؤ ؛ او په « تاوو تاکنګ » نومی کتاب ئې ډېر ښه تعلیقات لیکلی دی د دې کتاب په خصوص کښې خپله نظریه داسې څرګند وی چه حقیقت دا دی چه لاوتسې د بشریت د روحی تحولونو په تاریخ کښې ډېر داسې مهم حقایق څرګند کړی دی چه هغه دا انسان په تاریخ کښې پرته له دې پیاوړی عالم څخه بل هیچا نه دی څرګند کړی.

د « ګریل » په فکر هغه چینی تصوف چه لاوتسی په خپل کتاب ښوولی او معرفی کړی دی د پخوانو هغو مذهبی کتابونو د تعلیمونو څخه ډېر جګ دی چه د مذهبی او عقلی تصور د لوړو درجو دادراک په خصوص کښې یې نو یو مذهبی کتابونو ته ورکړی دی.

« ګریل » دا عقیده لری چه موږ د لاوتسی په تألیف کښې د حضرت عیسی د اساسی مبادیو د تعلیم په خصوص کښې ډېر نا آشنا او عجیبه درسونه وینو ، ده په خپله د مذهبی کتابونو سره مماثل (٨١) مبادی کشف کړې او دا خبره ئې ثابته کړې ده چه د وحی مسئلې او د الهام د مفکورې په خصوص کښې د مسیحی دین د زعیمانو د پاره د دې کتاب کتل ډېر ضروری کار دی ؛ دینه وروسته « ګریل » وایی. چه د لاوتسی دا تفرد په خپله د ده د قوت او کامیابی هغه راز دی چه د ده په عصر کښې دغه راز او قوت په پوره ډول چا ته نه دی څرګند شوی ، مګر دا هغه شخص دی چه زمانې په دې خبره قدرت نه دی پیدا کړی چه له ده نه وروسته بل دغه راز شخص میدان ته راوباسی او دا ځکه چه نه دی په خپله یو عادی شخص ؤ

او نه دده عبارتو نو یوازې دد غې زمانې ترجمانی کوله ، بلکه دی د حاضر یعنی حال او مستقبل دواړو طاقت او قوت ؤ ؛ او دی یو داسې شخص ؤ چه دخپل وخت دلو یو عصری خلکو څخه ډېر زیات عصری او دخپل وخت له ژوندیو خلکو څخه ډېر زیات ښه ژوندی ؤ

هندی دینی فکر

تر ډېرې اندزې غربی مفکرین او پوهان په مقناطیسی ډول دهندی دینی فکر دتأثیر لاندې په دې ترتیب راغلی چه: «انکوتیل دوپران» (Anquetil Duperron) فرانسوی پوه دانگریزی استعماری لښکرو سره ددې دپاره بمبیی ته راغی چه دی په هندوستان کښی «د فارسیانو مجوسیانو په دینی نظریاتو او فلسفی حکمتونو ځان پوه کړی . دې شخص دخپل ځان سره د «ژند ـ اوستا» (Zend-Avesta) او «ویدی اوبانیشاد» هغه فارسی ترجمه چه د داراشکوه ملغی پاچا په امر شوې وه دنورو مقدسو کتابو نو سره اروپا ته یووړله ؛ د دې کار په اثر اورنگ زیب دخپل ورور دار اشکوه په دغه کار ډېر خوابدی شو او په ۱۶۵۶ میلادی کال ئې ددې کار په اثر دهغه دسر دغوڅولو حکم صادر کړ . په ۱۸۰۱ میلادی کال کښی «دوپران» دغه کتاب د «اوپناگت» (Oupnekat) په نامه په لاتینی ژبه ترجمه کړ او د دغه کتاب په خصوص کښې ئې خپله دا نظریه څرگنده کړه چه په دې کتاب کښې په دینی باطنی مبادیو ډېر پوره بحث شوی دی ، دی له ـ «اوبانیشاد» : څخه دا قتباس په ډول دا جمله (هر چا چه خپل رب وپېژاند هغه په خپله رب شو) رااخلی او ترجمه کوی او له دې ترجمې څخه د «شوپنهاور» (Schopenhaur) دپاره دو رځنیو دعاگانو یو کتاب جوړ ېږی شوپنهاور ددې جملې په ستاینه کښې وائی چه همداشی دانسانی مواهبو ډېره عالی نتیجه ده .

وگوره هر کله چه «اوبناگت» دوید عظیم روح پوکړی نو څوك چه د دې کتاب دفارسی او یالاتینی ترجمې په ذریعه ددې کتاب په محتویاتو پوه شی نو د پوهیدلو سره سم ددې مقدس کتاب محتویات دهغه د روح په تلونو ، کښې خپل تأثیر کوی او دا ځکه چه ددې مقدس کتاب هره پاڼه دعالی افکارو او مقدسو مبادیو څخه ډکه ده او هر څوك چه دې کتاب ته ځیر شی نو ددې کتاب دپاڼو او مطالبو څخه دهغه زړه ته دعالی افکار ووړانگې ورننو ځی شوپنهاور وائی چه دا کتاب زما دژوندانه تسلی ده او دمرگ په وخت کښې به دم زما دروح تسلی وی . پیاوړی پوه فیلسوف «پول دیوسن» په خاصه طریقه په «اوبانیشاد» نومی کتاب ځان پوه کړ او دپوره پوهېدلو نه وروسته یې په المانی ژبه په ډېر غور ددغه کتاب په ترجمه پیل وکړ .

«دیون» پەدې کتاب کښې د کون اوحیات درازونو پەشااو خوا کښې ډېر ژوراو مېر هن ارشادونه وموندل ، په کوم فلسفی تصورچه دامجموعه مشتمله ده پەدې فن کښې هغه یواز نی مجموعەده چه پەنورو هندی کتابونو کښې ساری اوجوړه نەلری. او بانیشادد نو یومذ هبی کتابونو پەکتار کښې بنه کتاب ګڼل کېدلای شی ،دغه پوه دا نظریه لری چه دادواړه کتابونه یو دبل متمم دی او پەخپلو منځو کښې دیو بل سره په هدف اومبادیو کښې هیڅ تعارض نەلری اودادواړه کتابونه دنړۍ پەدینی کتابونو کښې ډېر لوی کتابونه دی . دالمان د «مالو یدا» (Malvida)

نومی مشهور دې مؤلفې په عقیده هم چه د«شوپنهاور»او «دیونس» شاګرد ده وه «اوبانیشاد» نومی کتاب دورځنود عاګانو کتاب دی ، دا مېرمن پەډېر قدراو احترام ددې کتاب ستاینه کوی او وا یی چه دهمدې کتاب پەو سیله موږ د کون په اسرار وپوه شوواوموږ دې حقیقت تەورسېدوچه څرګندحق اوحقیقی وجودهغه ثابت ثیان دی چه نەتبدیل قبلوی اونەدهغو پەرنګ او بنه کښې تغیرر اتللای شی او پرته لەدې نورشیان عبارت لەیو داسې کون څخه دی چه دزمانی او مکانی نقلیاتوسره سم بدلیږی اور نګونه بدلوی ، کەپخوانی زوړ هندی فکرپەیوه داسې نړۍ کښې خپورشی چه هغه د شخړو پەلوخړو کښې پټه اودغمونو پەاورونو کښې پەکړاوونواخته وی، نود دې تعلیمونو په اثر بەدغه نړۍ پەیوه بلەداسې نوی نړۍ بد لەشی چه هغه به دامان اونفسی ډاډاوروحی سعادن خوشحاله نړۍ وی.

پر تەله دې حقایقو څخه، کەموږ ډېرلږ پەدې حقیقت ایمان و لرو چه موږ قول بشر په اصل او حقیقت کښې سره یو یو اوموږ قول بېرته یومرجع ته ورتلونکی یو ، یا پەبل عبارت دهند پەپخوانی اصطلاح « براهما» (Brahma) په هر یو تور ، سپین او ژیړ انسان بلکه په هر مارغه او بوټی او نبات او په قولومخلوقاتو کښې موجوددی اوداهغه روښانه نتیجې دی چه ددې نتیجو په رڼا د بشری نړۍ زړونه او عقلونه رڼا کېږی .

هغه انګلیسی فیلسوف «چمبر لین - H.S » (H.S.Chamberlain) چه په المان کښې ئې استو ګنه کړې ده دویدی تعلیمونو ستاینه کوی ،دافیلسوف دوید په تعلیمونو کښې دیو ښکلی وحدت مظهر وینی اوداهکه چه دغه وحدت ددین اوفلسفې پەمنځ کښې کوم فرق اوتناقض نه منی .

هرکله چه له دې پیاوړی سیاسی شخص څخه یومحل چاداپوښتنه وکړه چه تا ته

څوك ډېر نژدې دی ، ده ور ته په ځواب کښې وویل زه « یا گنا و ا لکیا » (Yajnavalkya) ته چه داو با نیشاد د لو یو رجا لو څخه دی ډېر نژ دې یم ، «ما کس مو لر» (Maxmuller) او با نیشاد پخوا له دې چه «پول د یوسن» ئې ترجمه کړی په انگلیسی ژبه ترجمه کړ او ددې کار په اثر یې د بشریت د پاره د غرب په مخ د پخوانی انجیل دروازې خلاصې کړې او دا ځکه چه دې شخص په دغه ترجمه کښې د «رگ ویدا» (Rg.-Veda) تعلیمو نه هم خپا ره کړل او ددغو تعلیمو نو د شعور او دقت ډېره ستا ینه ئې وکړه «ما کس مو لر » د غرب د هغو پباوړ و پوها نو څخه دی چه د نړۍ د تحلیلی ادیا نو په پلټنه کښې یې دټو لو پوها نو څخه میدان وړی او په دې فن کښې ئې په پنځوسو جلدو نو کښې یو ډېر مشهور او مهم تألیف چه په «الکتب ا لمقد سة لشرق(۱)» شهرت لری لیکلی او خپور کړی دی چه دا کتاب د شر قی ادیا نو د پا ره ډېر مهم کتاب دی ، دی په دې خبره عقیده لری چه په نو رو ادیا نو کښی هم الهی و حی شته خصو صاً په هندی دینی فکر کښې ، دا شخص هغه لومړی اروپایی عالم د ی چه نړۍ ته یې په پو ره وضا حت ددې خبرې اعلان وکړ چه هند دارو پا د پا ره یوه رو حی رساله لری آیا هند دا نه شی کولا ی چه موږ ته هغه راوښیی؟ سره ددې چه د ې پوه په خپله په مسیحت عقیده لرله او په دې خبره یې ایما ن در لود چه حضرت عیسی د خدا ی قیمت بها مرغلره ده مگر سره ددې ټو لو خبرو هر کله چه له د ه څخه ځینو جا پا نی طالبا نو دا پوښتنه وکړه چه موږ بـا ید کوم دین قبول کړو نو دې پوه ورته په جواب کښې وویل چه با ید د جا پان خلك د بودا دین قبول کړی .

«بهگوات گیتا » دالمان د ډېرو مشهورو پو ها نو په نظر کښې ډ ېر مهم کتاب وگڼلای شو ، او ددغه اهمیت په اثر «اگسطلس ولها لیم» پیاوړ ی پو ه ددې کتاب اصلی نص تنقیح او د خپلې لاتینی تر جمې سره ئې چا پ کړ ، دغه پوه د خپل کتاب په مقد مه کښې په ډېرو جگو الفا ظو ددغه مجهول شاعر داسې ستا ینه کړې ده : اې معبوده شاعره زه په تا سلام وایم ـ اې د رحمت ر سو له ستا د نـه فنا کېدو نکو عبارتو نو څخه موږ داسې جگ الها مو نه اخلو چه روح و ر باندې تا زه کېږی او لوړو درجو ته پورته کېږی، ته دالهام زانگو او د ټولو بر کتو نو مر کز یې ه تل ستا مبا رك قد مو نه ښکلوم او ستا عظمت ته د احترام سرټیټوم .

«ویلهلم وون» د سنسکرت پو ها ند ددې مقدسې قصیدې په شا او خوا کښې

(۱) Sacred Books of the East.

يوه قيمتي رساله ليکلې ده، دې پوه خپل يو ملګري ته په دې حقيقت اعتراف کړي دي چه دا په ځمکنو جوړوشو وافکارو کښې داسې ژور اوجګ افکار دي چه بشرته ور بخښل شوي دي، وايي چه هر کله مالومړي وارهندي شعرونه ولوستل نوزه دې حقيقت ته ورسېدم چه دا دخدای ډېر فضل ؤ چه ما ته يې په دې جګو مطالبو د پوهېدلو د پاره فرصت راکړ. بل «لورنسر» نومي الماني مفسر د دې خبرې د ثابتو لو کوښښ کړي دي چه د «بهاګوت ګيتا» ليکونکي د نويو اصحاحو يعني نويو مذهبي کتابونو د عالي مباديو څخه استفاده کړې ده ليکن دا نظريه د تاريخ له مخې ځکه غلطه ده چه د ګيتا عصر د نويو مذهبي کتابو د عصر څخه ډېر وړاندې دي دغه پوه د دې کتاب د ښکلو او خوږو شعرونو اوجګو مباديو ډېره ستاينه کوي او د دغه کتاب هر توري د فلسفي حکمتونو د باغچې ښکلي او ښايسته ګل ګڼي که څه هم «سيمون» نومي مشهور پياوړي فرانسوي مؤلف په يهودي کورنۍ کښې پيدا شوي او غير معمو دي مسيحي ګڼل کېږي مګر سره د دې، دي د ګيتا نومي کتاب په خصوص کښې ليکي چه هر کله ماد دې کتاب هغه خواږه کلمات لوستل چه د هر مسيحي په زړه ډېر ښه تأثير کوي نو زما شعور دې کتاب داسې قوي کړ او زما په زړه کښې يې دا فکر را پيدا کړ چه بايد موږ هر هغه ديني حق ته هر کلي ووايو چه د هغه تعليمونه حر او آزاد او عالي وي؛ نه دا چه د هغه مضامين يوازې خواږه او ښکلي وي.

نور فکري کتابونه

په هندي کتابونو کښې بې له هغو کتابو څخه چه د هندي حکمت پخې وثيقې او ډکې خزانې ګڼل کېږي، ډېر نور فکري کتابونه هم شته چه هغه هم په غربي ژبو ترجمه شوي او په عمومي ډول د غرب د پوهانو په نړۍ کښې ښه هر کلي شوي دي «فريدريك دوکرت» الماني پياوړي لغوي او شاعر «ګوبندا ګيتا» نومي کتاب ترجمه کړي دي، او همدغه راز «والتر ديتز» (بها ګوات پورانا) نومي کتاب ترجمه کړي دي، دې شخص د هندي فلسفې او هندي مذهبونو سره ډېره مينه لرله او په هند کښې ئې ډېره موده استوګنه کړې ده، او د «کرشناوي» باطني مذهب په خپرولو ئې پيل وکړ په هند کښې نور داسې هندي کتابونه او قصيدې هم شته چه په غربي ژبه د ترجمې نه وروسته يې د الماني پوهانو او شاعرانو په زړونو ډېر زيات ښه تأثير وکړ ليکن د «کاليداس» «شکنتلا» نومي مشهوره هندي شخړه د «هر در- شيلر- ګويتي- ويلهلم» او نورو ډېرو غربي پوهانو د ستاينې سبب شوه.

همدغه راز دکالیداس «مکدوتا» یعنی دوریخورسول نومی قصیدې اود (نالاو نمایانتی) اشعارو دمترجمینو اوشرقی ادیانو اوفلسفې دپلټونکو توجه ځانته راوګرځوله او په دې ډله کښې د «ګویتې» اشعارو ځکه ډېر شهرت ومو ند چه هغه له دې نظریاتو اونورو هندی افکارو څخه الهام اخیستی ؤ.

هرکله چه ګویتې هغه کتاب ولوست چه یو هالینډی هیئت د «دیوداسی» (نومی ښځی) یعنی دمعبود دهغې مینځې په خصوص کښې چه تل به په معبد کښې اوسېدله اود «ستی» دمهمې واقعې په خصوص کښې لیکلی ؤ (ستی هغې کونډې ته وائی چه هغه دخاوند دمرګ نه وروسته دهغه په مرګ دخپل غم دځرګندولو دپاره ځان داوربلو لمبوته وروغورځوی) ولوست نوده دغه واقعه په یوډېر خوږ او ښکلی شعر کښې د «درجوت انت دی بجا درا» په نوم تألیف اودغه قصه یې په خوږ وشعرونو کښې داسې بیان کړه. هرکله چه معبود دمعبد دپیغلې سره ډېره خوږه شپه په ډېره خوشحالی سباکړه نوده دغې ښځې ته ځان داسې وښود چه ګوندې دامعبود مړشوی دی هرکله چه «دیوداسی» خپل ځان دمعبود کډه ګڼله نوددې معبود په مرګ ډېره غمجنه شوه اوځان سره یې دافیصله وکړه چه بایدزه خپل ځان د «ستی» یوه ډېره ښه نمونه وګرځوم اوخپل ځان ئې داوربلو لمبو ته ورو اچاوه. بل شعر چه ګویتې دهندی افکارو د تأثیر لاندې لیکلی دی هغه «دی برایر آف ای باریا» نومی شعردی.

هرکله چه په نولسمه او شلمه پېړۍ کښې دهند لویو شخصیتو نو او متفرقو هیئتونو اروپاته په تګ راتګ پیل وکړ اودې خلکو دغرب دپوهانوسره خبرې اترې اومذاکرې شروع کړې نوددې کارپه نتیجه کښې هندی ادب په غربی ادب کښې دنفوذو لارپیدا کړه، چه ددې خلکو په لړ کښې «رام موهن رای» د «براهمو سماج» دتحریك مؤسس چه په انګلستان کښې مړشو په آزادو اومؤحدو پروتستانو کښې خپل ډېر ذیات اثر پرېښود اوپه دې خلکو کښې «سری رام کر یشنا» د «ماکس مولر» او «روماین رولاند» دتألیفود بحث موضوع وګرځېد. د «رابندر اناتا ګور» هغو ادبی اوفلسفی اوخیالی لیکنوچه په غربی ژبه ترجمه شوې وې په غربی ټولنو کښې ډېر لوستونکی پیدا کړل. اومادده دهغې وینا نه وروسته چه زمایه زیرنتون (میونخ) کښې ئې کړې وه اوپه دغه نطق کښې یې خپلې ځینې قصیدې اونور قیمتی نظریات ځرګند کړی ووپه اروپایی ټولنو کښې دده په نسبت ډېر ښه اوجګ انعکاسونه ولیدل

«روماین رولاند» او دغرب نور لیکوال مهاتما گاندی دغربي افکارو او عقلیاتو یوه معتدله نمونه گڼي «جوهن هاینس هولمز» امریکائي لیکوال وایي چه که ما په تناسخ عقیده لرلای اوزه داخبره دډېر فکر نه وروسته په ډېر احترام کوم اووایم چه مهاتما گاندی دالهام مبدأ او هغه مسیح دی چه مځکې ته رالېږل شوی دی. او «رولاند» دخپلو اشعارو په خاتمه کښې هندی شاعر ټاگور او دسیاست دمیدان پیاوړی گاندی ته خطاب کوی اووایي چه: اې ټاگوره اواې گاندی! تاسې دواړه دهند هغه فیاض سیندو نه یاست چه دشرق او غرب په منځ کښې دورې کوی، یو په تاسې کښې دجگو کارنامو اتل او بل هغه روښانه مشال دی چه بیخی نه مړ کېږی او تاسې دواړه په ځمکه کښې دخدای فضل یاست.

یعنی په هغه ځمکه کښې چه دهغې خلك دشقاق او نفاق په سرولمبو کښې کړېږی، او تاسې زیار باسی، چه په دغه ځمکه کښې دخیر اومینې او محبت تخمونه وکری، او دغه دشقاق او نفاق ځمکه دمینې او محبت په سمسور باغ بدله کړی.

هندی فکریوازې دغرب په آزادو مفکرینو کښې خپل تأثیر نه دی کړی بلکه هغه تبلیغي هیئتونه چه هند ته تللی دی په هغو کښې هم دهندی تدین مبادیو خپل پوره تاثیر کړی دی، او لکه د «پوپ، مانسیکول، فارکوهار» غوندې مبلغینو دهند په دیني کتابونو تفسیرونه لیکلی او دغه کتابونه ئې د څېړنې لاندې نیولی دی، د «جاکیپ ویلهلم هاور» غوندې نور پیاوړی پوهان هم دهندی دین دتاثیر لاندې راغلی او دیو هندی المانی یا المانی او آری مذهب دایجاد او اختراع هڅه یې کړې ده؛ دایو داسې مسلك دی چه دهندی او المانی تصوف عناصر سره یو ځای کوی، دغرب په پوهانو کښې ډېرو پوهانو داخبره لازمه او ضروری گڼله چه باید ددیني هند څخه ډېر تبلیغي هیئتونه مسیحی غرب ته ولاړ شی په ځای ددې چه دمسیحی غرب څخه دیني هند ته ولاړ شی لکه چه «انجلیکانی» او «نسلوو» مبلغ ددې خبرې اعلان کوی چه زه پخپله دې وینا کښې مبالغه نه کوم چه غرب هند ته محتاج دی او هر څومره چه دهند سره دغرب پېژندگلوی ډېره شی په هغه اندازه به په دې خبره دغرب یقین هم زیات شی چه هغه نور چه هندی دیني عبقریت یې مسیحی فکر او دغرب ورځني ژوند ته لېږلای شی هغه نور به دغرب دپاره د یو فکری او معنوی انقلاب حیثیت ولری او ددې کار په اثر به موږ ته دا حقیقت څرگند شی چه بې له دې نور څخه زموږ معرفت تل جزئی او ډېر نیمگړی دی.

دې مفکورې ته ور ته بله هغه نظریه ده چه دهندی فکر دتبلیغ په لړ کښې

یو هندو په ۱۹۱۰ میلادی کال کښې په برلین کښې د آزاد مسیحیت او دینی تقدم په عالمی مؤتمر کښې ځر ګنده کړې او و یلی یې ؤ چه : هند لکه ددې ننني ورځې ټولې نړۍ ته عموماً او غرب ته خصوصاً ډېره توجه لري او زموږ د توجه ټول ارکان دمعقول اتحاد او دنړۍ دادیانو دذاتی حقایقو او خاص ترکیب کشف او دهغه باطنی اتحاد او تألیف عملی کول او خپرول دی چه دټولو انبیاً علیهم السلام او پیغمبرانو په تعلیمونو او انسانی ورود ولی کښې پټ پروت دی .

هر کله چه سند را سنګه هغه مسیحی مبلغ چه دسکانو په کورنی کښې پیدا شوی او وروسته مسیحی مبلغ شو او اروپا او امریکې ته په «کهنو تی مسیحی» یعنی په مسیحی مخصوصو کالیو کښې ولاړ دنو دخپل تبلیغ یعنی خپل مذهب ته درابللو سلسله یې په هندی رمزونو او مثالونو شروع کړه چه ددې کار په نتیجه کښې کومو خلکو چه په کلیساګانو او نورو محایو کښې ددې مبلغ وینا اوریدلې وه هغوی ددې هندی شکل په ذریعه دمسیحی فکر او عیسوی ژوند په حقیقت پوه شول .

د بودا توب اثر

دغرب په نظر کښې بودیت هم په اهمیت کښې د نورو ادیانو څخه کم نه ؤ؛ د «اوریجن» نومی مسیحی کلیسا هغه پیاوړی پوه چه داسکندریې دتبلیغی مکتب پیرو ؤ ؛ تر ډېرې اندازې دبودائي توب او هندو توب دتأثیر لاندې راغلی ؤ ؛ او دې هندی مذهب سره ئې ډېره مینه اوعلاقه لرله دا پیاوړی دهغو بو د ایانو په عقیده ؤ چه هغوی « مهایا نا » (Mahàyàna) مذهب ته منسوب ، او هغه عقیده داده چه عیسی به ترهغې دپوره او کامل سعادت خاوند نه شی تر څو چه د هغه داتباعو څخه یو فرد په شړاو تکلیف اخته وی .

په ورو ستو کلو نو کښې بو د ائیت په مسیحی ښار و نو کښې د یو د اهب داسطورې او افسانې په شکل معرفی شواو د «برلعام» او «یو سف» اسا طیر د بودا دافسانې دیونا آشنا شکل څخه بل شی نه دی . دبودا اصلی قصه په مسیحی رنګ کښې غرب ته دفارس او سوریا او بیزانطین دلا رې تللې د ه ، لکه چه دا خبره په سنسکرت کښې زما استاذ په خپله یوه علمی قیمتی و ینا کښې ثا بته کړی ده.

د «مار کو پولو (بند قی) د آسیا هغه مشهور سفر (بندق دایطالیا په مربوطاتو کښې یو مشهوره ښار د دی) بو دایی او مسیحی نظریاتو په منع کښې

ډېر ټینګ مشابهت څرګند کړی دی او دا هغه لومړی شخص دی چه په دې موضوع کښې یې ډېر قیمتي معلومات خلکو ته وړاندې کړی دی او په منظم ډول ئې غرب ته د بودایي مفکورې د تلو لار ښوولې ده، مارکوپولو وایي: که بودا مسیحي وی نو دی به د عیسی په مخ کښې ډېر لوی راهب وی ځکه چه دده ژوند ډېر راهبانه ژوند ؤ په وروستیو کلونو کښې د غرب ډېرو مفکرینو د بودا شخصیت او دده تعلیمونو ته د ډېر اهمیت په سترګه وکتل، او له دې خلکو څخه شوپنهاور په المان کښې د بودایي مفکورې لومړی مبلغ ؤ.

دده په عقیده بودا او عیسی دواړه دیوې مفکورې مبلغان وو او د شوپنهاور د تأثیر لاندې «ریچارد واګنر» (Richard Wagner) د المان مشهور شاعر د بودایي نظریاتو د تأثیر لاندې راغی او «مایتلد» هم په خپله په دې خبره اعتراف وکړ چه ما په خپله خوښه بودایي نظریات قبول کړل او ویې ویل: چه بودیت نړۍ ته داسې عجیبه او نا آشنا تصویر وړاندې کړ چه نور نظریات د هغه په مخکښې تنګ او عبث معلومېږی مګر سره ددې دی د خپل هغه تمثیلي مقصد په ثابتولو کښې چه په موسیقي کښې ئې د بودا او د هغه د ژوندانه د اوضاعو د تمثیل د پاره ټاکلې ده او دغه موسیقي په «فاتح» (The Victorious) او په هندي کښې د «جینا» په نوم یاد ېدله بریالي او کامیاب نه شو، او دا ځکه چه دده تمثیلي خطوط د بودا په نورو مشهورو موسیقي تمثیلونو کښې په واضح ډول ښکاره او څرګند وو.

«مایتلد» وایي چه په «نیتاتش» (د اخلاقي معیار انقلاب) کښې په یوه قصیده کښې د بودا او د بودا د مذهب په خصوص کښې پوره بیان راغلی دی، دا کتاب دا حقیقت څرګندوی چه دا مذهب واقعیت ته د مسیحیت نه ډېر زیات نژدې دی.

«اناطول فرانس» وایي چه ما ته بودیت د منکوب انسان د پاره ډېر ښه ناصح او قوي مرستیال ښکاره شو، پوه فاضل «لیو پولډ زیلګر» وایي چه بودیت د پرو تستانتي توب کامل اړخ دی، «هانس دریز» پیاوړی فیلسوف په دې عقیده دی چه بودیت یو داسې دین او الهام دی چه په فکري او اخلاقي اصولو کښې د مسیحیت سره اوږه په اوږه برابرولاړ دی «پیتز ولد» الماني پوهاند وایي چه د «مهایانا» پاکې او به د انسانیت د خیرن وجود د پاکولو د پاره ډېره ښه وسیله ده.

د اروپا ډېرو پوهانو خصوصاً د المان پوهانو د خپلو علمي او تاریخي بحثونو او څېړنو په ذریعه د بودایي مذهب د خپر ېدلو د پاره د غربي نړۍ لار خلاصه کړه، په دې خلکو کښې «هرمان او لدن برګ»

(Herman Oldenburge) هغه لومړی شخص دی چه د « بودا او د هغه د اصولو او اجتماع » په نوم یې د خپل مشهور کتاب ډېرې نسخې خپرې کړې ، او د ده غوندې یو بل مهم شخص « هرمان بک » چه (ډېر مشهور وکیل ؤ او څه موده وروسته ئې په تبتی شئو ناتو کښې ډېر لوی لاس پیدا کړ او وروسته ډېر پوخ قوی مسیحی مبلغ شو) وایی چه پر ته له انجیل څخه ما د بودا د کتاب څخه بل بیا بیا مکرر نه دی لوستلی، دی لیکی چه د دې عصر د پاره دا خبره لازمه ده چه په بودیت او د بودیت په اصولو ښه ځان پوه کړی او د دې تعلیمو نو په رڼا کښې د دین او دینی ژوند ژورو مطالبو ته ځانونه ورسوی او یا په بل عبارت د دین او ژوندانه په اسرارو ځانونه پوه کړی ، د نویو علمی پلټنو په اساس د ادیانو تطبیقی درس دا خبره ثابتوی چه بودیت د مسیحیت ډېر دقیق او عمیق تصویر دی .

د غرب په پوهانو او شاعرانو کښې بې له « هرمان بک » څخه بودائیت بل چا دومره ښه نه دی ستایلی ؛ دی وایی چه : بودایی اصلی اصول په خپله د بودا په کیسه کښې په خپله حقیقی معنی ذکر شوی او راغلی دی یوازې هغه ادبی خواره مطالب نه دی راغلی چه په ډراماتیکی ډول د انسانیت په عالی بدلېدونکو مظاهرو تأثیر کوی، بلکه دا قصه په ډراماتیکی بڼه کښې د خلکو په زړونو کښې د بودایی اصولو جوهر او د بوداد د عوت هغه بنسټ څرګند وی چه په هغه کښې یې خلکو ته د دغه مذهب بلنه ورکوله دا قصه دغه عمیق مطالب په یو داسې ترتیب څرګندوی چه په ذهنونو کښې تازګی پیدا کوی او دا هغه طریقه ده چه په ډېره آسانتیا ډېر عمیق او ژور مطالب نسبت نورو مقدسو کتابونو ته د خلکو په زړونو کښې په ډېر ښه شان ځا یوی .

په نولسمه پېړۍ کښې د غرب د شاعرانو، ادیبانو او روحانی خلکو له خوا د بودایی دین منظم تبلیغ شروع شو «تیودر» دا نظریه لری چه په بودایی مذهب کښې د هغه تجدد د پاره چه په نوی عصر کښې را تلونکی دی د اروپایی ادب د پاره ډېره ذخیره موجوده ده ؛ د پورته مفکورې سره د « کارولین داوید » او د ده دښځې علمی چارې او کارونه هم ملګری دی ؛ دا ښځه او خاوند دواړه په تطبیقی دینی علمونو کښې د لوی لاس خاوندان او د « بالی اتحاد » موسسان وو او دې دواړو په نړۍ کښې د بودیت (تر اوادا) د خپرولو د پاره ډېر کارونه کړی دی ؛ دوی نه وروسته د کتور « پول دهلک » د برلین او سېدونکی

د بودایي دین د پاره په برلین کښې بودایي معبد، ودان کړاو د میونخ «جارج گریم» د (بودائیت یو طبیعي دین دی) ؛ په نوم یووی کتاب ولیکه ؛ د هامبورگ «هانس مخ» او د ډنمارك «کارال گیلروب» د بودایي روایتونو کاتب او نورو ډېرو المانیانو بودایي دین قبول کړ. او د سیلان په بودایي «دیر» کښې داخل او په نړۍ کښې د بودایي مذهب مشهور مبلغان شول «گوت» د «بالی» په متن ډېرې شرحې او تعلیقونه و لیکل او وروسته ډېر لوی بودایي راهب شو.

د ښه وروسته ډېر منظم بودایي هیئتونه او منظمې بودایي موسسې جوړې او تأسیس شوې لکه د کلکتې منظمه «مهابودهي» نومې مؤسسه ؛ د دې هیئتونو او مؤسسو هدف یوازې په هند کښې د بودایي مذهب حفاظت او خپرول نه وو بلکه په غربي نړۍ کښې د دې مذهب حمایه او خپرول هم وو.

د هغو هیئتونو څخه چه د دې مرام او هدف د تر سره کولو د پاره د هند نه د باندې کارونه کوي ؛ په انگلستان کښې د «بودایي اتحاد» په نوم او هغه اتحادیه چه «لونسبری» نومي امریکایي عالم تأسیس کړې ده ؛ او بله هغه امریکایي بودایي اتحادیه ده چه لندن کښې یې یو بودایي معبد و دان کړی دی.

د دې مؤسسو او اتحادیو منظم هیئتونه په المان او انگلستان کښې په خپلو کارونو بوخت دي او د دوی دادارې او کنټې لاندې د بودایي مذهب د خپرولو د پاره منظمې خپرونې او تبلیغونه کېږي ؛ دغه مجلس او خپرونې د غرب خلکو ته د دې خبرې تبلیغ کوي چه بودیت یو انساني عمومي دعوت دی او بو داد هر انسان په زړه کښې ځای لري په هره زمانه او هر ځای کښې چه وي.

اسلامي اثر

د منځنیو پېړیو څخه اسلام د اروپا په فکري ژوند کښې خپل تأثیر وکړ او د اروپا د روحاني پوهانو څخه ډېر پیاوړی پوهان د دې دین د تأثیر لاندې راغلل چه د دې پوهانو څخه لومړی شخص «توماس اکیویناس» (Thomas Aquinas) هغه لومړی شخص دی چه د عربیت او اسلامي فلسفې د دوو پیاوړو پوهانو یعنی ابن سینا او ابن رشد د فلسفې د تأثیر لاندې راغی او په منځنیو پېړیو کښې د اروپا علمي او فلسفي ټولنې د عربي تالیفاتو په ذریعه د ارسطو د فلسفې او د هغه د فلسفې له مباد یو سره اشنا شوې.

په طلائي عصر او دوره کښې هغه مسیحي دیني جدل او مناقشه چه د حضرت «محمد صلی الله علیه وسلم» په خلاف جاري وه د هغه د تعلیمونو او اصولو په تقدیر او

نمانځنه بدله شوه؛ او د «کودلنبرګ» «کو نسستور یال ریت بویسن» نومی شخص چه د المانی کلیساګانو د خلکو د ډلې څخه ؤ په اتلسمه پېړۍ کښې قرآن ترجمه کړ.

دغه مترجم د خپلې ترجمې په مقدمه کښې د اسلام په خصوص کښې داسې لیکی: د مسیحی دین نه وروسته اسلام یوازینی تعقلی او منطقی دین دی.

عبقری المانی شاعر تر ډېرې اندازې د اسلامی تصوف د تأثیر لاندې راغلی دی او د ده اشعار و شعری اړخ په فارسی رنګ کښې ښکارېږي؛ د ده هغه دیوان چه په تصوف کښې د فارسی اشعارو په مجموعه مشتمل دی په المان کښې د شرقی علومو د طالبانو د پاره یو ښه مرجع دی؛ «هانس» نومی پیاوړی المانی شاعر په «ګویتې» کښې د فارسی شعر نفوذ په پوره ډول څرګند کړی دی؛ او «ګویتې» د فارسی د مشهور صوفی شاعر حافظ ډېره ستاینه کړې ده او د حافظ څخه ئې په خپله یوه لیکنه کښې دا پوښتنه کړی ده چه ستا د دې شعر څه معنا ده چه تاویلی دی.

اې وروره! هر کله چه ته زما سره په غم او ښادۍ کښې برابرې نوزه هم ستا سره په غم او ښادۍ کښې یو ځای او سېدل غواړم او موږ په دې کار کښې سره غبرګونی وروڼه یو.

ګویتې د فنا په فلسفه ډېره عقیده لرله او د اعقیده کټ مټ د هندوانو هغه عقیده ده چه د غه عقیده په هغو کښې د «نروانا» په نامه یاد ېږی، ده به په خپلو شعرونو کښې د فارسی ادب پتنګ مثال راووړ او دا ځکه چه پتنګ د رڼا او نور سره مینه لری او د دې مینې په اثر دی ځان د اور بلو لمبو ته غورځوی او په دې ترتیب دی د مینې په لار کښې په نور کښې فنا کېږی، سره د دې چه ګویتې اسلام ته د جمالی او د اخلاقی خوا څخه کتل مګر باید د احقیقت هم څرګند کړای شی چه په غربیانو کښې دا ډول خلک ډېر لږ دی چه هغوی د ګویتې غوندې د اسلام په روح او جوهر پوهیدلی وی او د ده غوندې ئې د اسلام جګه غایه او عالی هدف درک کړی وی.

دی د اسلام د جګو غایو په خصوص کښې په خپل یو خوږ شعر کښې خپله نظریه داسې څرګند وی:

هر کله چه اسلام په ټوله معنی الله تعالی ته د خپل ځان تسلیمول دی نو په دې معنی مونږ ټول په اسلام کښې مرو او پیدا کېږو.

بل «فریدرک روکرت» نومی هغه المانی شاعرو چه په غرب کښې په اسلامی شعر پوه شو دا پوه یو ډېر لوی لغوی عالم او شاعر صوفی ؤ. بل «هامر برګستال» لوی پیاوړی مستشرق ؤ چه په المان کښې ئې د فارسی شعر د پاره ډېر خدمت وکړ

دانګلستان ، المان او فرانسې پیاوړو پوهانو د اسلام په شا او خوا کښې ډېر زیات قیمتی علمی او تاریخی مضمونونه ولیکل چه په دې پیاوړو کښې د سر او ډېر مشهور خلك « نوول دیك» او «ګولد زیر» نومی پوهان دی ، او هغه اسلامی دائرة المعارف چه د اسلام په خصوص کښې د غرب پوهانو لیکلی دی د دې خبرې ډېر ښکاره دلیل دی چه د غرب پوهان د اسلام په حقیقت او مزایاؤ او علومو ډېر ښه پوهېدلی دی «لویس مسیګنون» فرانسوی پیاوړی پوه د هغو جګو شخصیتونو څخه دی چه په غرب کښې د شرقی ادیانو پوره مرجع او مرکز ګڼل کېږی ، او سره د دې چه دی په خپله د روم د کاتولیکی مسلك پیرو دی د اسلام ډېر قدر او احترام کوی او په دې خبره کامل یقین او عقیده لری چه اسلام او مسیحیت په حقیقت کښې دورور ولی او اخوت محرك مذهبونه دی .

په غرب کښې د اسلامی معلوماتو یو بل مرکز او مرجع «انا میری سکیمل» نومی یوه المانی میرمن ده ، دې مېرمنې اول د «ماربرګ» په پوهنتون کښې د معلمۍ وظیفه درلوده او اوس د انقرې په پوهنتون کښې د ادیانو د تاریخ درس ورکوی ، دې مېرمنې د اسلام په شا او خوا کښې ډېر کتابونه تالیف کړی او د اسلام په خصوص کښې یې ډېر علمی بحثونه خپاره کړی دی او د صوفیانه اشعارو یوه ښکلې مجموعه ئې هم خپره کړې ده ، د دې د اشعارو ډېره برخه د فارسی غزل په بحر کښې د اسلام د پیاوړی متصوف جلال الدین بلخی د نظم په روح لیکل شوې ده .

سربېره پر دې په اروپا کښې نن هم داسې خلق او داسی ډېرې منظمې اسلامی علمی مؤسسې شته چه د غه مؤسسې د هغو مسیحی پوهانو له خوا اداره کېږی چه د مسیحیت نه اوښتی دی او اسلام یې قبول کړی دی ، له هغو خلکو څخه چه اسلام ئی قبول کړی او د اسلامی اصولو او مبادیو په تبلیغ بوخت دی « جرمانوس» نومی هغه مجارستانی مشهور پوه دی چه د خپل ژوندانه په شا او خوا کښې یې یو داسې کتاب لیکلی دی چه په نړۍ کښې ډېر زیات شهرت لری او د اپیاوړی پوه په خلکو کښې د « الله هو» په لقب شهرت لری .

د پورته مضمون څخه موږ ته د ا حقیقت څرګند شو چه په دې تېرو لږو

پېړ یو کښې شر قی فکر او دشرقی ادیانو رو حیې او تعلیماتو په غر بی تعقل او افکارو او آدا بو تر کومې اندازې اثر کړی دی او تر نن ورځې پورې به ئې کوی . دهغه حقیقی مشا بهت په سبب او دهغو اخلاقی او داد بی روا بطو په راز او حقیقت چه په روحی او فکری او دینی میدانو نو کښې دشرق او غرب تر منځ موجو د دی بی دالما نی شاعر «گو یتې» څخه نور خلك ښه نه دی پوه شوی .

دی په خپله هغه قصیده کښې چه دشرق او غرب دیو بل سره دروا بطو او گډون په خصو ص کښې یې ویلې ده داسې وایی «څو ك چه نو ر او خپل ځان پېژ نی بـا ید هغوی په دې خبره او حقیقت اعتراف وکړی چه شر قی او غر بی د یو بل څخه بیخی نه شی جلا کېد لای ، با ید موږ دشر قی او غر بی نړ ی د هغو خلکو په منځو کښې دتگ او را تگ مینه او روح پیدا کړو چه هغوی دښو او عا لی افکارو سره مینه لری او دحق او رېدلو ته غوږ ونه نیسی ، دشرق او غر ب پـه منځ کښې بې له دې تحریك څخه بل نیکمر غه او ښه کار نشته . او دا ځکه چه شر ق ا و غرب او جنوب او شمال ټو ل دیو خدای په لاس او قدرت کښې دی .»

ظاهر افق

لوسون او ادبیات

((لوسون په چین کښې د نوی ادب لارښوونکی دی))

لوسون چه اصلی نوم یې (چو - شو - ژین) دی، د چین په (چیکیانګ) کښې په کال ۱۸۸۱ م د سپټمبر په میاشت کښې پیدا شوی دی. دی د یوې خوراغریبې کورنۍ څخه ؤ چه ډوډۍ یې نه درلوده او په تن کښې یې نوی کالی هم نه ښکاریدل.

کله چه لوسون پیدا شو نو یو څو ورځې لا نه وې تیرې شوی چه نیکه یې بندی او اقتصادی وضعیت یې تر پخوالا هم پسې خراب شو. د ده د پیدایښت په وخت کښې یې پلار ژوندی ومګر خورا مفلس او غریب وکله به یو ه د فترته ورغی، هغوی

به یا کارنه ورکاوه اویا به یې نه درلود ، خو کله چه به یې کار هم پیدا کړ تنخواه به یی دومره لږ وه چه د دوی د ماښام ګوله به لانه پرې کیدله . کله به یې پور کاوه او کله به یې د بلې لارې څخه دومره پیسې پیدا کړې چه یوازی ګیډه به یې پرې مړیدله . د لوسون په کاله کښې تر ډیره وخته پورې دغه وضعیت موجودؤ . پس له څه مودې څخه چه لوسون دریو کالو ته ورسید نو یې پلار خوار کی د ډیره غمه ، مفلسی او خواری څخه نا جوړه اوورپسې مړ شو .

دغه وخت نو (ژین) خوار کوټی نه پلار درلود او نه یې د نیکه لاس وررسیده مګر یوه مسکینه مور یې لاژوندی وه چه نه پرډوډی باندې قادره وه او نه یې کوم زاړه کالی برابرولای شوای که څه هم داخوار کی ډیره بیچاره او غریبه وه خو په لوست او لیک څه نا څه پوهیده له .

هغه وخت چه لوسون لاوړو کی و او مکتب ته نشو تلای ژړ ز بیښلی به په کورو او کوڅو کښې ګرځیده څنګه چه په دغو وختو کښې به دی خپلو خپلوانو لیده دده خبرې به یې اوریدلې او د ده وکاروته به یې فکر کاوه نو هغو به هغه وخت ده ته ګو ته په غاښ کښې نیوله او د یوه ذکی هلك په حیث یې ورته کتل .

(لوسون) چه شپږ وکالو ته ورسید مکتب ته ولاړ په مکتب کښې یې خوراسات تیرؤ او په خپلو درسو کښې ښه غښتلی شو لږ وخت چه لانور تیر شو بیایې نو وزړو کلاسیکی ادبیاتو ته ملا و تړ له او مطالعه یې پکښې شروع کړه .

دی لا یو څه وخت دلې وخوځه موده وروسته چه د خپل اکاسره (شاهسینګ) ته ولاړ هوري یې نو بیا خوراښې مطالعې وکړې او تقریباً ۱۲ کاله یې په تاریخ ، مذهب او نکلو اونورو موضوع ګانو کښې مطالعه وکړه . ترڅولو یې د نکلواو کیسوفن ښه خوند ورکړ او په خوراد لچسپی په دغه مضمون کښې ورننووت . لوسون خپل ذوق پوره ښکاره کړ او په عمومی آرټ کښې یې هم شاهکاری وکړې په رسامی پوهیده او په نقاشی کښې د پوره اقتدار خاوندؤ . د عکاسی سره یې ښه جوړه وه او دالبم په ترتیب کښې یې یو خاص سبك راویست .

لوسون چه و۱۳ کالو ته ورسید نو یې د خپلې مسکینی او خواری احساس شروع کړ . د مخه یې که څه هم احساس درلود خوورځی او یا موړ د اکاترلاس لاندې یې په یو ډول سره ژوند کاوه ، اوس نو لوسون بیا بیچاره نه ډوډی لری او نه کالی څوك ورکوی نه یې اکاچنداني کومك ور سره کوی او نه یې نور خپلوان غم پر

خپله غاړه اخلی . داځکه چه د ده پلار مړ ، نیکه یې بندی او موریې هم غریبه وه نو مجبوراً د یوه سوداګره سره نوکر سو چه ګوندې له دې لارې ډوډی او کالی پیداکړی ، خو هغه پیسی خورالیږې ورکولې او کاریې ډیر ځنې غوښت .

دی چه دلته لاأومه خوله هلك و نویې فکروکړ چه د دې سړی سره خونه شم چلیدای ځکه کار را باندې ډیر دی او احتیاجات یې هیڅ نه پوره کیږی پس له څه مودې څخه بیچاره لوسون ددغه سوداګره څخه وتښتیداودیوه دواساز دکان ته ورغی د ده فکرو چه ګوندی دا سړی به یو څه انصاف داروی مګر وروسته دی په دې پوه شو چه دی هم ددغه سوداګر په شان ؤ یعنی دې دواساز هم دونه ظلمونه پرې وکړل او دونه ډیرزحمتونه یې پرې وروستل چه ګواکې له دغه وختو څخه دغسې خلکوته بد بینی پیداکړه څو وروسته یې پخپلو ناولو کښې د هغوی کیفیت په خورا واقعی ډول سره ترسیم کړ.

په هر صورت لوسون له دواسازه څخه هم ولاړ که څه هم د موریې څه په وس نه وه پوره خوبیایې هم خپل ځیرك زوی (لوسون) د (ناول) لیکنې مکتب ته ورواچاوه اوپس له څه وخته د دې مکتب څخه دی کامیابه را ووت خودا کامیابی د ده په خیال اطمینان بخښه نه وه . وروسته داورګاډی مکتب ته ور داخل شو که څه هم دې مکتب کښې دی کامیاب و لاکن پر ذوق یې برابر نه و . دغه و خت ده و ادبیاتو ته لاس ورواچاوه داروپاځینی سیاسی کتابونه یې مطالعه کړل یعنې په دغه وخت کښې لوسون د خپل عصر سیانس اوادبیاتو ته ځان ځپلمه کړ هغه وخت چه ده په مثبتو علو مو کښې مطالعه شروع کړه نویې ځینی ترجمه شوی کتابونه چه هکسلی او ډاروین لیکلی ووهم مطالعه کړل .

ده چه د هکسلی او چارلس ډاروین خبرې واوریدې نویې د تدریجي تکامل (Evolution) مذهب په خورا ټینګار سره قبول کړاو دایې و منله چه کائنات یو تدریجی او تکاملی حرکت لری .

ده علاوه پردې چه د ډاروین خبری یې دنوی بیالوجی اساس وباله او دخپل ځان د پاره یې یونوی علمی او مثبت مکتب جوړ کړ بلکه په دغه مثبتو علومو کښې یې ښه مطالعه وکړه او پوره لاس یې پکښې و موند .

په ۱۹۰۱ کال چه لوسون د (ریل ګاډی) مکتب پای ته ورسا وه بیانو دحکومت له خوا وجاپان ته واستول شو چه هودې تعلیم وکړی .

ده په جاپان کښې (۸) کاله تیر کړل او هوډې یې علاوه پرخپل اصلی تعلیم نورې مطالعې هم کولې یعنې تر تعلیم وروسته به یې د اروپایی فیلسوفانو ځینې فلسفې مطالعه کولې .

د مختلفو ادیبانو (بایرن ، شیلی ، پوشکین او نورو) ادبیات او اشعار یې کتل . دا ادبیات یې کله په جاپانی او کله به یې په جرمنی ژبو هم مطالعه کول هغه وخت چه لوسون د طبابت و مکتب ته داخل شو نو یې دا عقیده وه چه د طبابت علم (هغه علم چه په هغه شره د صحت ناجوړه ی ورکیږی ، را ګرځی) د یوې اجتماع د پاره خورا لازم او ضروری دی نو یې ځان مجبور وباله چه باید په دغه علم کښې خورا زحمت وکاږی او خپله کښته جامعه د دغې لارې څخه لوړه کړی . مګر په (۱۹۰٦) کال دده فکر وګرځید او عقیده یې واوښتله نو یې وویل چه د یوې اجتماع د پاره چه نه یې فکری سویه لوړه او نه آزادی ولری، باید داسې کارونه وکړو چه د هغوی ما غزه ویوې مثبتی لارې ته راکش شی چه البته داوظیفه داد بیاتو پرغاړه ده .

دی پس له اتم کال، څخه په (۱۹۰۹) کښې چین ته بیرته راغی او هوډې یې د استاد په حیث ډیر عمر کاروکړ. دی په کیمیا او فزیولوجی کښې د لوړی پایې خاوندو چه د شاهسینګ په مکتبو او مدرسو کښې یې هم د دغو مضامینو ښوونه کوله.

په روسیه کښې چه دا کډوبر انقلاب وشو نو تأثیرات یې چین ته هم ورسیدل او ډیر خلک یې سره وښوروول .

لوسون په خپل توده یی سبک کښې داسې کیسې اونکلونه میدان ته را باسی چه ټوله اجتماع د امپریالیزم په مقابل کښې پاروی او بیداروی یې .

ده خپله لومړی لنډه کیسه د (لیونی سړی د یادداښتو) په نامه په ۱۹۱۸ کال کښې لیکلی ده چه په هغه کښې یې د مارکسیزم فلسفه په خورا وضاحت سره څیړلې ده .

ده د دغه وخته څخه خپلې مقالې، کیسې اونکلونه شروع کړل او وروسته یې نورعالی کتابونه هم لیکلی دی. دی په (۱۹۲۰) کال د (پیکینګ) په پوهنتون کښې د یوه برجسته استاد په حیث مقرر شو .

په کال (۱۹۲۳) کښې یې د لنډو کیسو یو خوراخوږ کتاب جوړ کړ چه نوم

یې (عسکروته ورږغ کړه) دی . دا کتاب چه خپور شو او دملت ځوانانو، منورینو او نورو ادیبانو ولید نو یې وویل : «بیشکه چه لوسون دچین د نوی ادبیاتو پلار دی ».

لوسون په خپلو آخرو لسو کلو کښې ډیر کتابونه لیکلی دی او ترجمې یې زیاتې کړی دی . دده لیکنې نه یوازې کیسې او ناولونه دی بلکه تاریخی، علمی او فلسفی لیکنې او کتابونه هم ډیر لری .

ده د پلخانوف لیکنه (د آرت تیوری) ، (د آرټ ادب او انتقاد تیوری) چه لو ناچارسکی لیکلی دی هم ترجمه کړی دی .

د گورکی، گوگول ، شالخوف او نورو کیسې او ناولونه یې هم په خپله ژبه اړولی دی . د لوسون کتابونه او کارنامې خوراډیرې دی خو لنډه یې داچه دی په شلمه پیړۍ کښې نه یوازې دچین یو نامتو لیکوال دی بلکه د دنیا نورې ټولنې هم دده دریالستیک سبک څخه ښه استفاده کولای شی او کوی یې .

دی علاوه پردې چه دیوه خوږ سبک خاوند دی بلکه لیکنه یې هم دخپلو او پردو دپاره خورامئو تره ده .

ده په خپلو ځینو ناولونو او نکلو کښې دفیوډالسټی جامعې ترخې صحنې ترسیم کړی او په هغوی کښې یې ددغې ټولنې دژوند لوړې او ژورې داسې په وضاحت سره ښودلی دی چه که یې سړی مطالعه کړی نو به حتماً گوته په غاښ کښې ورته ونیسی .

ده سربیره پردې چه خلک د نوی ژوند دپاره تیار کړی پر فیوډالسټی ادبیاتو باندې یې هم سخت وارونه کړی دی .

د لوسون دژوند او کارنامو په باره کښې مو په خورالنډ ډول سره خبری وکړې نو ددې لپاره چه دی تر دغه لا ښه و پیژنو دغه لاندې درې نکتې به ووایو چه په دې ترڅ کښې به دده یو څو (پرادب باندې) خبرې هم واورو .

اول . د ده کار او خدمت دچین د نوې ژوند په شروع کښې .

دوهم : دده مخصوص او تود ه یی سبک .

دریم : دده علمی او سیاسی سویه .

(۱) که څه هم لوسون خپل ادبیات په ۱۹۰۳ ع کښې شروع کړې دی خود چین د نوې ژوند راتگ یې پخواتر هغه لا په نظر کښې ساتلی و .

ده علاوه پردې چه داد بیاتو په ژبه یې مثبتې فلسفې ته کار کړی دی د چین او د نوی
ژوند د پاره یې هم ځان قربان بللی دی.

ده خپله لومړنی کیسه په ۱۹۱۸ کال کښې خلکو ته وړاندې کړه او په هغه کښې یې
ټول خلک د مارکسیزم په فلسفه باندې پوه کړل.

دی په دې وخت کښې چه خلک د خوبه راپاڅوی نو په نرمو الفاظو کښې وائی «زموږ
د سنی هدف دادی: چه مقاومت وکړو (۲) ډوډۍ او کالی پیدا کړو (۳) او
مخ په وړاندې ولاړ شو.» دی وایی چه موږ ته ذهنی انکشاف لازمی او ضروری
دی ترا بده نشی کیدای چه یوسړی دې پر خپل خیال پاتې وی او که پاتې هم
شی هغه د کښتې سویې خاوند دی.

لکه چه وایی «موږ باید خپل ماغزه په کار واچوو نوی میدان جوړ کړو او
نوی ابتکار منځ ته راو باسو. که چیرې موږ ابتکارونه کړو او ماغزه په کار وانه
چوونو معلومه ده چه موږ نوی خلک نه یو. بی له دې څخه بیا ارټ او ادبیات
هم رنسانس نشی راوستلای» علاوه پردې چه لوسون خلک په کیسو او نکلو کښې
پیداره کوی په ښکاره الفاظو خلک دې ته را بولی چه ځانونه سره وښوروی.

(۲) لوسون د ځان د پاره یو مخصوص ریالستیک او خوږ سبک لری. پر ریالیزم
باندې هم خورا ډیر بږغیدلی دی او ایډیالیزم یې هومره داد بیاتو په ساحه
کښې په مځکه منډلی دی څومره چه یې توان و.

دی وایی چه یو لیکوال باید خپله لیکنه د تودې او اجتماع څخه جلا نه کړی
داسی شیان رانه ولی چه دده اجتماع نه هغه لری او نه پرې خبروی.

یوار ټسټ او ادیب باید د خپلې اجتماع څخه پوره خبروی د هغوی په لوړ و
او ژورو چه هر څونه ښه او ډیر پوهیدلی وی په هغه اندازه کامیاب وی یعنی
د ټولنې زوړ او پخوانی حال باید په نظر کښې ونیسی څو نوی متودونه ور باندې
تطبیق کړای شی.

که څه هم د نوی متودونو تطبیق پر زاړه شکل یا د زاړه شکل را اړول و نوی
شکل ته اسان کار نه دی د انتقادی آرټ او ادب کار هم دغه دی چه عملاً خلکو
ته خپل عکسونه په عین هغه شکل وروښیی څنګه چه جریان لری.

دلته دافرق نه لری چه دا عکسونه یاد ادیب په ناول کښې را شی او یا یې بو نقاش په خپله واقعی تابلو کښې را ولی بلکه په هر صورت او هره و سیله چه وی باید دخلکو ټول هغه وضعیت ترسیم شی څنګه چه یې لری . داسې باید و نه شی لکه یو ایډ یالیسټ ارټیسټ چه دخپله ځانه داسې یوه تابلو رسموی چه نه یې په اجتماع پورې اړه ولری او نه یې دمتوده سره کومه رابطه موجوده وی .»

(۳) دلوسون علمی او ساینسی سویه خورا لوړه ده په مثبتو علومو پوره پوهیده ډېر عمرد بیالوجی او کیمیا استادو . په فلسفه کښې دمارکسیزم یو کلك پیرو او په بیالوجی کښې دډارو ینیزم دمکتب یو خورا ټینګ شاګرد دی .

په ادبیاتو کښې ډېر ډېر کتابونه لری چه دا کتابونه یې دریا لیزم په سبك کښې کښلی دی په نور و علومو کښې یې هم مطالعه نه ده پری ایښی او مثبتو علومو ته یې ټینګه عقیده وه .

هغه وخت چه ده خپلې ټولې کار نامې او شاهکارې د چین ملت ته پر یښو ولې نو په وروسته کښې دسل په مرض اخته او په ۱۹۳٦ ع کال داکتو بسر پسر (۱۹) باندې وفات شو .

دا وې یو څو خبرې دلوسون دژوند او ادبیاتو په باره کښې چه واقعاً په چین کښې دنویو ادبیاتو پلار دی .

مآخذ :

دلوړې مقالې په لیکلو کښې دلاندې مجلو او کتابو څخه هم استفاده شوې ده :

1) Chinese Literature No: 12-1961
2) Chinese Literature NO ;9-1959
3j An outline history of China, Peking 1959
(Tungchi-ming)
4) Selected Wonksof Lu-Hsun volume one
Peking 1956i

پښتنی خویونه

لنډ کی کیسه

سیلاب ساپی

سلطان ملا

هر قوم او هره قبیله بیل ممیزات او ځانله‌خویونه اوعادتونه لری چه‌دهمدغو خصوصیاتو په اساس قومونه ، تپې او قبیلې سره بیلیږی . لکه چه په رنګو نو قدونو او قوارو کښې تو پیرونه شته نو دغه راز په خویونو، عادتونو ، ممیزاتو او نو رو قومی او ملی رواجونو کښې هم‌سره ډېر ډېر توپیر او بیلتون موجود دی .

البته هر څوك ، هره قبیله او هر ملت په خپله ژبه ، په خپل خوی او خپل عادت خوښ دی او خپل دودونه ورته له‌هر چا نه ښه ښکاری . په خپلو ممیزاتو ویاړی او خپل خصوصیات‌ورته له نورو څخه غوره بریښی . بلکه خپل قوانین او دخپل ژوندانه لارې دخپلو خپلو قبیلو او تپو دپاره‌هر وخت، هرځای او هر کله دپردو رواجونو او دبل چاله دودونو دستورونوڅخه په څو محله غوره ګڼی :

پښتانه هم لکه څنګه چه یو لوی قوم دی او په یوه پلنه‌او ارته ځمکه باندې ژوند لری نو دغه راز ځانګړی خویونه ، مستقل دودونه او ځانته سو چه اوپاك رواجونه لری چه دوی هم خپل خوی او عادت له نورو څخه غوره او ښه منی بلکه په خپلو قومی روایاتو پوره عقیده او دخپلو ملی ممیزاتو سره ډېره مینه لری .

البته ددنیا ډېرې سړې‌تودې په‌دوی راغلی اورارواني‌دی‌خوبیاهم دژوندانه په ټولو اړخونو او دزمانې دسیر او حرکت دټولو نیر نګونو او درند و ځپړو سره‌سره هم‌دپښتنو ملی ممیزات او قومی عنعنې لا په خپل حال پاتې دی او امیددی چه هیڅکله به هم له‌مینځه ولاړې نشی .

پښتانه په خپلو کښې سره هم ډېرې ګډې وډې لری او چه دخپلې پښتونولی په چوکاټ کښې یی سره لږ څه ورانی راشی نو بیا دخپل ورور ، زوی او د تره دزوی په مرګ هم ډیل نه دی او ایله پرې نه کوی بلکه دخپلې پښتو، پښتونولی او ملی ممیزاتو دساتنې په لار کښې هر ډول قربانی‌او ایثار ته غاړه ږدي او خپله پښتو په هر شواخون چه وی حتمی سرته رسوی .

پښتون چه یو محل دچا سره ددوستۍ او وروری تړون وکړ نو بیا د هغه سره دمرګ ترورمځې پورې خپله دوستی ساتی . او ددغې د وستۍ په هر پړ او کښې دسر ښندنه خپل فخر ګڼی او ددوست خوشالی، ارامی بلکه دهغه پت ، ناموس حیا او شرف ساتنه دخپل ځان خوښی ، عزت او سرلوړی بولی بلکه د دوست ښه او بد غم او خوښی او نور ټول لوی او واړه شیان فقط د خپل ځان ګڼی او هیڅکله دخپلو ملی او قومی خصوصیاتو او دودونو څخه قدم نه کږوی او د آخری سلګۍ پوری دخپلو روایاتو او عنعناتو دساتنې او پالنې په لار کښې پاخه پاخه قدمونه پورته کوی.

د مثال په ډول دپښتنی خصوصیاتو او ملی ممیزاتو او ښې پالنې او ساتنې بلکه دپښتنی روایاتو او عنعنو دسرته رسولو او ټینګولو په لار کښې دلته د یو پښتون دپښتونولی سره دمینې په لار کښې دقربانۍ او ایثار کیسه چه ما ته ټکی په ټکی معلومه ده بیا نول مناسب ګڼم .

دمومندو دقبیلې څخه خو هر څوك خبر دی ولې دهغې قبیلې واړه ښاخونه او دژوندانه نور خصوصیات به ګرانو لوستونکو ته پوره نه وی څرګند نو ځکه غواړم چه دنمونې په څیر دمومندو دعیسی خیلو ددرې څخه د یوه پښتون د پښتو او پښتونوالی په شا او خوا باندې لږه رڼاوا چوم.

دمومند ودعیسی خیلو دره دآزاد شمالی پښتونستان دمومندو دقبیلې په غربی شمالی برخه کښې دخاص کونړ سره پوله په پوله پرته ده.

دعیسی خیلو له له نورو برخو څخه آباده او شنه ده ځکه چه هغه ځای ښې روانی او به لری او دهغه ځای هوا هم نسبت دمومندو نورو برخو ته ښه ده بلکه په اوړی هم دهغه ځای هوا سړه وی. ددغې دری بره برخه چه (اغز) نومیږی په ژمی واورې لری او په اوړی کښې هم هوا ډېره سړه ده سره له دې چه دره ډېره تنګه او کم سوری ده خو بیا هم دښې هوا له کبله پکښې ډېر خلك ژوند کوی بلکه ددغه وړې درې دنفوس شمیر تقریباً دوه زره ځلمی اټکل شوی دی ددغې درې مشهور کلی دکونځلو شاګی، جړوبی ، توره تیږه ، ملك خیرجان مینه ، منځ کلی ، څپری ، کابل کڅ ، او اغز نومیږی .

ددرې دځلمو دنګې ونې ، نورانی څیرې ، ښکلی او سپین رنګونه ، خوږې مرکې او ددوی میلمه پالنه دستایلو دی.

ددغه ځای ځمکې کمې دی نو ځکه زیات خلك په تجارت او نورو خوار یو غریبیو باندې خپل ژوند تیروی دجړوبی او سیدونکی دمومندو دا تمر خیلو تپې یو ښاخ دی او دنوری درې اوسیدونکی دمومندو به عیسی خیل ښاخ یادیږی

ددې د پاره چه له خپل مطلب څخه لیری ولاړ نه شو نو غواړم چه د دوی د پښتنی خصوصیاتو او ملی ممیزاتو په شا او خوا باندې یوڅه وړ غیږم .

د غلته یو سړی په سلطان ملا یاد یږی . د سلطان ملا سره زما کومه جرګه مرکه نه ده شوی او د ده په شا او خوا کښې نور څه معلومات نه لرم خو د ده یوه لنډه کیسه ګرانو لوستونکو ته بیا نول مناسب بولم :

سلطان ملا په سمه کښې د یو سړی سره د پښتو او پښتونوالی په چوکاټ کښې دننه د دوستی او وروری قرار داد (تړون) وکړ مقابل طرف هم پښتون ؤ هغه هم ورسره د پښتونولی دود برابره دوستی روانه کړه .

دې دوستی وار دواره خپلې ریښې ټینګولې او ورځ په ورځ یې خوږلنی زیاتیده .

د دوې ترمنځ دلیدو کتو ، تګ را تګ سلسله د دوستی په اساس ټینګیده له او د یوې پاکې دوستی رنګ یې پیدا کاوه .

خیر شپې ورځې اوښتې سلطان ملا سپین ږیری شو خپل محلمی زوی ته یې وویل چه بچیه ! اوس خو په بریتو لاس وهې ترڅو به زه د کور د هرې غټې وړې غم خورم باید پس له دې خپل ژوند او زما ژوند ته ډیر په غور وګورې . زما دوستان او خپلوان باید ډېر ښه وپالې او په خپله هم د خپل را تلونکی ژوند پوره پوره خیال وساتې . تر څو به زه ژوندی یم او ته به څو پورې بې پرواژوند تیروې ....

باید پس له دې بې ځایه او خوشی ګرزیدل پرېږدې .

لنډه دا چه اوس سلطان ملا د کور زیات کارونه خپل زوی ته وسپارل . د کور کلی قوم او ولس په ماتوګوډو کښې هم خپل زوی شریکوی . سلطان ملا اوس په زړه کښې لږ خوشاله هم دی چه ښه شوزوی مې په ژوندانه دومره شو چه زما کارونه پرې کیږی .

هو ! ..... بله ورځ سلطان ملا خپل اشناته چه په سمه کښې او سیده او د ده د ډیرې مودې اشناو احوال و لیږه چه هلته زما د پاره یو خروار جوار واخله او راوې لیږه دستی پیسې نشته او چه کوم وخت لاس ته راشی نو درو به یې لیږم .

د سلطان ملا او د ده د دغه دوست دوستی د دروغو دوستی نه وه نو ځکه د ده اشنا اول په کور کلی کښې د جوارو تپوس وکړ خو څنګه چه په خپل شا او خوا کښې یې جوار پیدا نکړای شول نو څوورځې پس په جوارو پسې له کوره ووت په خواوشا کلو کښې وګرځید چه د خپل اشنا د پاره جوار پیدا کړی . په دې مینځ کښې چه څو ورځې تیرې شوې نو سلطان ملا خپل زوی ته وویل چه بچیه ! یو محل

سمې ته ولاړ شه او زما داشنا تپوس وکړه چه څه کیسه ورته پیښه ده چه زموږ جواریې راونه لیږل .

د سلطان ملازوی د خپل پلار د امر سره سم سهار وختی ورو خوځید چه د جوارو پته ولګوی او خپل پلار د اشنا دروغ ، جوړ معلومات هم وکړی . دی تیرما ښام د پلار د اشنا کورته ورسید مګر هلته میدان خالی و ځکه چه د پلار اشنایې په جوارو پسې یوځای بل ځای ګرځیده .

د سلطان ملا د زوی شپه د هغه د اشناکره راغله د سلطان ملا د اشنا نږور چه له خپل میړنه به خپه وه ده ته د خپل میړه د لاسه شکایت شروع کړ . په دې خبروکښې دواړه سره په یو بل ګرم شول او د سلطان ملا زوی د جوارو په ځای د خپل پلار د اشنا نږور له ځانه سره را روانه کړه .

کاله ته چه را ورسید یوازې موریې په دې خبره کړه او ورته یې وویل چه پام کوه چه پلارمې خبرنه کړې . زمونږ جواریې لاتر اوسه نه و واخستی خو چه زه راتلم نو داشنانږور هم راسره راروانه شوه هغه غریبه هلته لږه خپه غوندې وه نو ځکه مې زړه پرې وسو . پلارته مې څه مه وایه ... زه به یې سباته چیرته بوځم .

مور خویې هم پښتنه وه د خپل زوی دغه کار ورته ډېر بدښکاره شو ډېر کنځل یې ورته غلی غلی وکړل خو زوی ورته را برګ شو او په غصه کښې یې ورته وویل چه غلی شه چه څوك خبر نه شی .

خو موریی دکوټې څخه ووته او پلارته یې نیغه ورغله د خبرو په منځ کښې یې ورته د خپل زوی قصه روښانه کړه . سلطان ملا دې لانجې ته هك پك شو چه اخ دا څه و شول .

خپلې ښځې ته یې وویل چه زوی مې څه شو هله د هغه پته ولګوه چه ښځه و نه باسی چه زه ورپسې بیالوړې ژورې اوغرونه رغونه نه شم لټولی .

ورشه ورته غږ کړه چه یو ځل دلته راشی .

دغه وخت نو د سلطان ملا د پښتو نولی احساسات په جوش راغلی وو د زړې دوستی مینه یې په زړه کښې را وخوټکیده .

د اشنا یی په مرغلین مزی یې سترګې ونښتې او د پښتون د ملی عنعنې او فطری خصوصیت جذبه یې را ولاړه شوه .

دسلطان ملا دسپینې ږیری هرډکی دغیرت له جوش نه ډک شو.

سترګې یې دپښتو او پښتنو لۍ په یاد تکې سرې شوې.

دبالښت خواته یې لاس اوږد کړ.

دبالښت لاندې یې اړخېزه (تمانچه) چه ده به هروخت دهغې ججوره ډ که ساتله په رپیدلو ګوتو راپورته کړه.

سلطان ملا دپښتو او پښتو نولۍ غټه دعوه کوی.

سلطان ملا ځان پښتون بولی.

سلطان ملا دپښتو نولۍ دقانون مراعات دهرچانه ښه ساتی.

سلطان ملا وایی زه مومند پښتون یم.

سلطان ملا دسپینې ږیرې پورې دپښتو په نوم ډېرې قربانۍ ورکړی دی.

سلطان ملا دژوندانه په هر پړاو کښې ډیرې درنې درنې درغنی په خپلو اوږو وړی دی.

سلطان ملا دخپل ځلمی زوی څخه هم دپښتو نولۍ په قانون عمل غواړی.

زامن هرچاته ګران وی خود سلطان ملا دسپینې ږیرې زوی ته ډېرې سترګې اوړی..

سلطان ملا په دې نشی راضی کیدای چه په غړیدلو سترګو د پښتو د قانون ماتی وګوری.

سلطان ملا نن دخپل ځان سره لاس په ګریوان دی او هردم یې نوی فکر په مغزو کښې چکرو هی.

سلطان ملا په قام، ولس، کور او کلی کښې په ډېرو اوچتو سترګو ګرزیدلی دی پس له دې هم هغه دټیټ ژوند تیرولو دپاره نه دی تیار.

سلطان ملا هردرد او هر تکلیف زغملی شی خود پیغور پیټی دهغه ملاماتوی او داپیټی دی هیڅکله نشی اوچتولی.

سلطان ملا د پښتو او غیرت په څپو سورشو چه په دې کښې دخپل ځلمی او ګران بلکه دسترګو تور بچی سره چه دده دسپینې ږیرې ټولې ارزوګانې دهغه په شنو بریستو پورې زانګی، مخامخ شو.

سلطان ملا خپل زوی ته داسې لګیاکړی : بچیه !... مادژوندانه په او ډو ژورو کښې ډېرې تودې سړې وګاللې . ډېر کړاوونه مې و زغمل ډېر دردونه مې ولیدل اوایله اوس اوس په دې خوشاله شوی وم چه زوی مې محلمی دی پس له دې به ماته خدای داسې کړ او نه پیدا کوی چه ګوندې ماوژوروی .

خو... ته... پښتون... نه وې... ته د پښتنې څخه نه یې زېږېدلی... ته د پښتو ... د پاره ... شرم... یې . ستا... ژوند... زما د پښتو مرګ دی... زه... د پښتو په ژوند پسې ګرزم... زه ستاژوند د پښتو څخه ... قربانوم... تاد پښتو تیره ماته کړه ... تاژماد دوستی اوخپلې پښتو نولۍ ... هیڅ ... مراعات و نکړ ... دسلطان ملا دزوی ژبه ... ګونګه وه ... هغه ... هیڅ نشو ویلای ...

دسلطان ملا ښځه ... هم دخپل زوی دمینې ... او پښتو په منځ کښې حیرانه ولاړه وه ... هغې به څه کړی وای ... هغه هم پښتنه وه ... هغه دسلطان ملا ښځه وه ... هغه د پښتو او پښتونولۍ نه جوړه مجسمه وه ... هغه هم د پښتو دقانون او دخپلې پښتونولۍ په مقابل کښې ... دخپل خواږه بچی نه ... تیره وه ... کوم بچی ... هغه بچی چه دهغې کوڅې دهغه په مینه اوخدمت کښې سپینې شوی وی ... هغه خو... هغه بچی چه نن د هغه ژوند ددې دپاره دپیغور ژوندؤ... دهغې په زړه کښې هردم دمورولۍ وینه خوړکیده خودهغې دغه تاوبه د پښتنې احسا ساتوچپې یودم لکه دواورې غوندې سوړ کړ .

هو... هغه... هم... په کور... کلی... قام اوولس کښې د پیغور نه ډک ژوند تیرولو ته نه وه تیاره ... بس... همداوخت و... چه سلطان ملا دخپل زړه و اګی د پښتو قانون ته په لاس ورکړی .

دسلطان ملا ټول اندامونه زیړه شول .

دسلطان ملا په ستر ګو کښې اوښکې ډنډ شوې .

دسلطان ملا زړه یوڅوبې واکه، بې واکه ټوپونه ووهل .

سلطان ملا یو ځل بیا داخرنی وارد پاره د پلارولۍ اوزوی ولۍ په ستر ګو خپل زوی ته به غټو غټو وکتل . او پښتو او پښتونولۍ به جوش بې به خپل محلمی زوی باندې

د تومانچې (اړخیزې) په ماشه ګوته ټینګه کړه ... بس د تومانچې په ججوره کښې به ایله یو کار توس پاتې وچه کور کلی، خپل پردی ورته راورسیدل څه ګوری ... چه ... سلطان ملا خپل ګران او ډېر خوږ بچی د خپلی پښتو د پاره غلبیل کړی دی او په سرو وینو کښی رپیږی .

سلطان ملا په مسکو شونډو د کور کلی، قوم عزیز دوړاندې د خپل ګران بچی دوژ لو قصه په خلاصه ټنډه بیان کړه. بلکه دوی یې په دې خبره پوره پوه کړل چه سلطان ملا سره ددې چه اوس ډېر سپین ږیری دی خو بیا هم په پښتو مین دی او د ژوند د پاره د مرګ دورځې پورې قربانۍ ورکولو ته تیار دی تر دې چه ډېر ښکلی او نازولی زوی هم له خپلې پښتو څخه لوګی کولای شی .

کور کلی، خپل پردی د سلطان ملا د ننګ او غیرت جذبې ته هك پك ګوته په غاښ پاتې شول ... چا څه ویلی شو؟ ... فقط په ډېر تکلیف د کور کلی خلکو همدومره قدرو کړی شول چه د سلطان ملا زوی یې هدیری ته وسپاره ...

سلطان ملا اوس هم د عیسی خیلو په دره کښې د خپلی پښتو او غیرت نغاری غږوی او د پښتو نولۍ نه ډك یو خوند ورژوند په آزاده او خپلواکه خاوره کښې په هسکه غاړه تیروی .

پښه

غازی‌واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

تلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

کابل مجلې د تیلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراک بیه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰

د هیواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوی کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کیږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کیږي

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature. Philosophy

Philology, Sociology, Art and related fields

President of the Academy: POHAND RESHTEEN

Editor: M. Sidiq Rohi

Co-editor M. Moman Patwal

Address Pashto Academy

Kabul, Afghanistan